# د ۸ صبح

د پرون روایت | دنن هینداره | د سبا زېرى


## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۵۰ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۴۰۰، د زمري ۲مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ




ولسمشر غني د اختر له امله خپل پیغام کې د سختو ورځو د راتلو خبر ورکړ او ویې ویل: «طالبان د سولې نیت او اراده نه لري.» هغه زیاته کړه، د معاملې لپاره هېڅ اراده نشته او په ځینو سیمو کې وروستۍ کمزوري په امنیتي بنسټونو کې د سیاسي لاسوهنې پایله ده.

هغه ډاډ ورکړ چې د درېیو تر شپږو میاشتو پورې بېړنۍ امنیتي طرحه برابره شوې او د اوسنیو شرایطو بدلون ډېر وخت نه اخلي.



۸ صبح
د پرون روایت | دنن هینداره | د سبا زیری



# سرکرښې

## سوله او فرصتونه

په دې ورځو کې چې یو ځل بیا د افغان دولت او طالبانو ډلې ترمنځ د سولې خبرو موضوع توده شوې، د جګړې پای ته رسېدو او سولې ته د رسېدو لپاره یې د افغانانو په زړونو کې هیلې رازرغونې کړې. هر ځل چې د خبرو او دواړو لوریو د پلاویو ترمنځ د مذاکراتو خبره کېږي هر افغان په دې تمه چې کوندې دا ځل یوې هوکړې ته سره ورسېږي. خو هر ځل د اولس هیلې په سیند لاهو شي. په دې لړ کې د چنګاښ په ۲٦مه نېټه د قطر په پلازمینې دوحه کې د افغان دولت له لوري د سولې د عالي شورا د رییس عبدالله عبدالله او د طالبانو د پلاویو ترمنځ خبرې وشوې. که څه هم ددغو مذاکراتو اصلي موضوعات د موقت دولت جوړېدل، اوربند او د قطر یا ملګروملتونو سازمان د منځګړیتوب په اړه خبرې کول بلل شوي و. خو له بده مرغه پر دغو مسلو هوکړه ونه شوه او داسې ښکاري چې دواړو خواوو د یو بل د غوښتنو منلو ته غاړه نه ده اېښې له همدې کبله دغې ناستې د پام وړ پایلې نه لرلې.

د دغو دوه ورځینو خبرو په اړه خپره شوې اعلامیه کې یوازې د خبرو د دوام، د عامه ځایونو او شتمنیو پرخوندیتوب او د کووېډ نولس ناروغانو د درملنې په اړه له روغتیایي کارکوونکو سره همکاري د ناستې د پرېکړو مهم ټکي بیان شول. افغان اولس په دغې اعلامیې سره یو ځل بیا لېترلېږه په نږدې راتلونکې کې د جګړې د پای ته رسېدو لپاره هیلې له لاسه ورکړې.

په داسې حال کې چې د افغان دولت او طالبانو ډلې ترمنځ د سولې رسمي خبرې اترې د تېر کال د چنګاښ په ۲۲مه نېټه په قطر کې پیل شوې. له هغه وخت راهیسې په دغو خبرو کې د پام وړ پرمختګ نه دی شوی. داسې ښکاري چې په دې کابو یوولسو میاشتو کې دواړو خواوو د سولې له رامنځته شوي فرصته سمه ګټه نه ده پورته کړې.

که څه هم تمه کېده چې د دواړو لوریو د لوړپوړو چارواکو ترمنځ وروستۍ ناسته د فرصتونو له لاسه ورکولو پرځای د سولې د لارې پر نقشې یا تګلارې هوکړې ته ورسېږي او په خپلو غوښتنو کې انعطاف وښیي ترڅو یوې حل لارې ته سره ورسېږي؛ ځکه د جګړې د دوو لوریو له خوا انعطاف او له خپلو یو شمېر غوښتنو تېرېدل د مذاکراتو د پرمختګ یو اساسي شرط دی؛ له هغې پرته خبرې هېڅکله مثبتې پایلې ته نه شي رسېدای.

افغانان له جګړې ستومانه شوي، جګړه د میلیونونو وګړو د بې کوره کېدو، مرګ ژوبلې او ورانیو لامل شوې. له دې امله روانو ناخوالو ته په پام سره باید د سولې له روان فرصته ګټه پورته شي دواړه لوري د خبرو له لارې یوې جامع او هراړخیزې هوکړې ته ورسېږي، ترڅو نور په هېواد کې د تل لپاره د جګړې ټغر ورټول او خلک له څه د پاسه څلورو لسیزو ناخوالو وروسته په امنه فضا کې د آرام ساه واخلي.

# لیکلړ

- د سختو ورځو په اړه د ولسمشر خبرداری ...... ۱
- د دوحې ناستې ګډه اعلامیه؛ مذاکرات دې په لوړه کچه دوام وکړي ...... ۲
- ولسمشر غني له پاکستانه افغان سفیر او لوړپوړي ډیپلوماتان کابل... ...... ۳
- په افغانستان کې د ترکیې پوځي حضور؛ ترکان څه وایي؟ ...... ٤
- د طالبانو د مشر اختریز پیغام: د خبرو له لارې د افغانستان... ...... ٥
- د کندهار والي: د کندهار جګړه سیاسي او قومي اړخ لري... ...... ٦
- د هېواد د مالي نظام ستونزه؛ اجمل احمدي د افغانستان بانګ لپاره... ...... ۷
- لنډۍ ...... ۱۰
- مریدنامه ۳۳ ...... ۱۱
- د ښاروالۍ او ترافیکو جنجال؛ د کابل په ترافیکي بې نظمۍ کې څوک... ...... ۱٤
- د سویل ختیځ زون پوځي شورا، د ملي دفاع سرپرست په مشرۍ ناسته وکړه ...... ۱٥
- د ننګرهار د ولایتي شورا رییس: اسلام آباد له طالبانو هراړخیز ملاتړ کوي ...... ۱٦
- د پکتیا څه د پاسه ۱۷۰ زره هکتاره ځنګلونه جدي پاملرنې ته اړتیا لري ...... ۱۷
- وچکالي او په وړاندې یې مبارزه ...... ۱۸
- ویټالیټي بلاسټ کرېکټ لیګ کې د افغان لوبغاړي نوین الحق بریالی سفر ...... ۲۰

د امتیاز خاوند: سنجر سهیل
مدیر مسوول: مجیب مهرداد
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: م. ظ. صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
خبریالان: احمد شاه شاداب
زمان سهیل او محتاج اصیل
دیزاین: غ. رضا مجیدي
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# د سختو ورځو په اړه د ولسمشر خبرداري



◆ د ۸صبح پښتو مجله

له دوحې د افغان دولت د پلاوي له راستنېدو وروسته ولسمشر وايي چې طالبان سوله نه غواړي او نيت لري چې په تورې سره قضاوت وکړي.

محمد اشرف غني وايي چې د معاملې لپاره هېڅ اراده نشته او په ځينو سيمو کې وروستۍ کمزوري په امنيتي بنسټونو کې د سياسي لاسوهنې پايله ده. هغه زياته کړه چې د دريو تر شپږو مياشتو پورې بېړنۍ امنيتي طرحه برابره شوې او د اوسنيو شرايطو بدلون ډېر وخت نه اخلي چې دا کار د دولت او خلکو ترمنځ په همغږۍ سره کېدای شي.

محمد اشرف غني د اختر له امله خپل پيغام کې د سختو ورځو د راتلو خبر ورکړ او وې ويل: «طالبان د سولې نيت او اراده نه لري.» هغه وايي چې دوحې ته د دولت د پلاوي لېږلو دليل هم دا وه چې اتمام حجت وشي؛ ځکه د هغه په اند افغان دولت د سولې نيت لري او ددې لپاره يې قرباني هم ورکړې ده نو اوس بايد په همدې اساسي نور تصميمونه ونيول شي.

هغه زياته کړه: «نړيوالو ته مو ويلي و چې د پينځه زره بنديانو خوشي کول تېروتنه وه، هغه مهال مو نړيوالو، سياستوالو او کارپوهانو ته وويل چې دا کار ناسمې پايلې لري. خو اوس جوته شوه چې همدا کسان جګړه اداره کوي.

ولسمشر وايي چې هغه وخت بهرنيانو او ځينو افغانانو شک درلود چې دولت د سولې نيت نه لري او دولت هم له کومې لاس ته راوړنې پرته پنځه زره بنديان د مذاکراتو د پيلېدو په موخه خوشي کړل، خو له بده مرغه له دې سره سره طالبان تراوسه هم جدي او معنی لرونکو مذاکراتو ته نه دي چمتو شوي. محمد اشرف غني وايي: «له بده مرغه په تېرو دوو کلونو کې جمهوريت له هر لوري تخريب شوی، ځينو ته دا باور ورکړ شوی و چې په يوازې سولې ته رسېدای شي او د پردې ترشا به پايلې ته ورسېږي چې له هغې بايد د وحدت او يووالي لپاره درس واخلو.»

ولسمشر جوته کړه چې پاکستان د تاشکند په ناسته کې جوته کړه چې پر طالبانو د نفوذ نه لرلو له امله دا ډله خبرو ته نه شي حاضرولی او ددې ډلې واک ته رسېدل هم ددغه هېواد لپاره يو خطر دی. ښاغلی غني وايي چې پاکستان دا خطر د ځان لپاره نه بلکې د افغانستان لپاره غواړي؛ ځکه د هغه په وينا د نومړي هېواد هېڅ سياستوال يا مهم ګوند په پاکستان کې د طالبانو نظام منلو ته حاضر نه دی.

د هېواد ولسمشر همداراز وويل چې د افغانستان اوسنی اساسي قانون په نړۍ کې ترټولو اسلامي قانون دی او که پاکستان د طالبانو حضور غواړي د ځان لپاره دې هم دا ډول نظام وغواړي.

هغه د طالبانو له خوا د ښځ بنسټونو پر ورانولو نيوکه وکړه او وې ويل چې دغې ډلې ډېرې ودانۍ چې د خلکو د زړونو په وينو جوړې شوې دي ورانې کړې.

ولسمشر وايي چې طالبان دي د خپلې جګړې دليل روښانه کړي، که دوی افغانان دي د افغانستان په چوکاټ کې دې راتول شي پرته له هغې د جګړې په ډګر بدلولو ته د ترجېح ورکولو په صورت کې به دولت دا حق ورنه کړي.

محمد اشرف غني زياته، طالبان چې په پاکستان کې اوسېږي نو اړتيا ده چې پوښتنه وکړي، هلته کوم قانون واکمن دی؛ ځکه د ولسمشر په باور تراوسه په پاکستان کې د انګليسانو قانون واکمن دی. هغه وايي چې طالبان په قطر کې مذاکرات کوي په داسې حال کې چې ددغه هېواد په پوهنتون کې ښځې درس وايي او د امريکا ترټولو لويه پوځي اډه هم هلته ده، نو بايد خلکو ته دا ووايي چې د راتلونکي لپاره څه کول غواړي.

د افغانستان ولسمشر وايي چې د نړيوالو ځواکونو په وتلو سره طالبان د واک له ترلاسه کولو پرته بله پلمه نه لري او له همدې امله يې اسلامي او ملي مشروعيت له لاسه ورکړی، چې د پاکستانيو مدرسو په ګډون ديني عالمان په افغانستان کې روانه جګړه مشروع نه ګڼي.

ولسمشر وايي چې د سرښندنې په پړاو کې يوو، بايد څوک د امتياز غوښتنه ونه کړي؛ بلکې ټول بايد وښيي چې د هېواد لپاره څه کولای شي. هغه وايي بيا هم تکراروم چې د جمهوريت غېږه لويه ده او ټول پکې ځايېږو.

د ويلو ده چې دوحې ته د دولت د لېږل شوي پلاوي په وروستي سفر کې طالبانو ډلې ډېرې وړانديزونه رد کړي دي. دغې ډلې د اختر په ورځو کې هم د اوربند له اعلانه ډډه وکړه. طالبانو په تېرو دوو مياشتو کې جګړې ته زور ورکړی او څه د پاسه سل ولسوالۍ يې نيولې دي. که څه هم امنيتي بنسټونه وايي چې ډېر زر به دا سيمې بېرته ترلاسه کړي.

## د دوحې ناستې ګډه اعلامیه؛

# مذاکرات دې په لوړه کچه دوام وکړي



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

د دوحې د سولې مذاکراتو چې په لوړه کچه د عبدالله عبدالله په مشرۍ د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د ملابرادر په مشرۍ د طالبانو د پلاویو ترمنځ د قطر په پلازمینې دوحه کې ترسره شول، د چنګاښ په ۲۷مه نېټه پای ته ورسېدل. په دغو خبرو کې دواړو لوریو یوې عادلانه او تلپاتې سیاسي حل لارې ته د رسېدو لپاره د مذاکراتو د چټکتیا پر اړتیا هوکړه کړې ده.

دواړو لوریو د ناستې په پای کې یوه ګډه اعلامیه خپره کړې چې په هغې کې د اوربند یادونه نه ده شوې.

د اعلامیې له مخې، دواړو لوریو هوکړه کړې چې د خبرو بهیر چټک شي ترڅو له دې لارې د افغانستان د اوسني وضعیت د پای ته رسولو لپاره زرترزره دایمي حل لاره پیدا شي.

دواړو خواوو همداراز ژمنه کړې چې عادلانه او تلپاتې هوکړې ته تر رسېدو پورې په لوړه کچه په مذاکراتو کې ونډه ولري او دغې موخې ته د رسېدو لپاره په راتلونکي کې دا ډول ناستې دوام وکړي.

د دواړو لوریو مشرانو مرکچي پلاویو ته حکم وکړ چې مذاکرات ګړندي کړي. په ګډه اعلامیه کې ویل شوي چې دواړه خواوې داسې هوکړې ته رسېدل چې د اسلامي اصولو په رڼا کې د ټولو افغانانو غوښتنې پکې ځواب شوې وي درک کوي.

دواړو لوریو ډاډ ورکړی چې په ټول افغانستان کې ملکي ښځ بنسټونه خوندي شي، د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی وشي او د بشردوستانه مرستو په اړه همکاري کوي.

په اعلامیه کې راغلي چې په ټول هېواد کې د کورونا ویروس پراختیا ته په پام سره، د واکسینو د صحي کارکوونکو د امنیت لپاره مناسب اقدامات کوي او همداراز د اکسیجن د لېږد او کوویډ نولس ناروغانو د درملنې لپاره د نورو اړتیا وړ توکو د لېږد رالېږد په اړه ډاډ ورکوي.

که څه هم افغان اولس تمه لرله چې په دغو مذاکراتو کې به د تاوتریخوالي د پای ته رسولو او اوربند په اړه هوکړه وشي، خو په اعلامیه کې د اوربند په هکله څه نه دي ویل شوي، په داسې حال کې چې له دې مخکې ویل شوي و چې اوربند د مذاکراتو اصلي اجنډا ده.

د لوړې کچې دغه مذاکرات د چنګاښ په ۲۶مه پیل شول او دوه ورځې یې دوام وکړ. اوربند، موقت دولت او د مذاکراتو لپاره د منځګړې ټاکل ددغو خبرو آجنډاوې بلل شوي وې.

عبدالله عبدالله، محمد کریم خلیلي، عبدالسلام رحیمي، عطامحمد نور، محمدمعصوم ستانکزی، فاطمه ګیلاني او باتور دوستم د افغانستان د اسلامي جمهوریت او ملا عبدالغني برادر، شهاب‌الدین دلاور، عبدالسلام حنفي، ملا دین محمد، مولانا فرید، ملا فاضل او شیخ عبدالحکیم حقاني د طالبانو په استازیتوب په دغو خبرو کې ګډون درلود.

په اختتامیه ناسته کې د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله او د طالبانو سیاسي مرستیال ملاعبدالغني برادر لنډې خبرې وکړې.

# ولسمشر غني له پاکستانه افغان سفیر او لوړپوړي ډیپلوماتان کابل ته راوغوښتل



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

په اسلام آباد کې د افغان سفیر د لور سلسلې علي خېل له تښتول کېدو او ځورولو وروسته د افغانستان او پاکستان ترمنځ نوی ډیپلوماتیک کړکېچ رامنځته شو او د افغانستان ولسمشر ددې پېښې په غبرگون کې له پاکستانه افغان سفیر او نور لوړپوړي ډیپلوماتان کابل ته راوغوښتل.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د چنگاښ په ۲۷مه نېټه په یوه اعلامیه کې ویلي چې په پاکستان کې افغان سفیر او لوړپوړي ډیپلوماتان د هغوی د امنیت تر بشپړ خوندیتوب، د گواښونو تر لیرې کېدو او د سلسلې علي خېل د تښتوونکو تر نیول کېدو او محاکمې پورې کابل ته راوغوښتل شول.

په دغه اعلامیه کې راغلي چې په نږدې راتلونکې کې به یو پلاوی ددغې قضیې د څېړلو لپاره پاکستان ته ولاړ شي.

اخوا، د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د چنگاښ په ۲۷مه ناوخته کابل ته د افغان سفیر او ډیپلوماتانو د ورغوښتلو په تړاو د افغانستان د ولسمشر په پرېکړه ناخوښي څرگنده کړې ده.

په دې تړاو اعلامیه کې ویل شوي چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي له افغان سفیر سره کتلي او هغه ته یې د پوره همکارۍ ډاډ ورکړی. دغه وزارت هیله ښودلې چې افغان حکومت پر خپله پرېکړه له سره غور وکړي.

له بلې خوا، د افغانستان د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح پر خپل ټویټر لیکلي چې د افغان سفیر د لور تښتولو او ځورولو زموږ د اولس روان ټپي کړی دی. په پاکستان کې د افغانستان د سفیر نجیب الله علي خېل لور سلسله علي خېل د جولای په ۱۶مه نېټه له اسلام آباده تښتول شوې وه او څو ساعته وروسته په داسې حال کې چې سخته ځورول شوې وه خوشې شوه.

دغې پېښې په سبا د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې د پاکستان سفیر وروغوښت او هغه ته یې خپل اعتراض ورانده کړ. د راپورونو له مخې، د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د دغه هېواد د کورنیو چارو وزارت ته امر کړی و چې په ۴۸ ساعتونو کې دا موضوع وڅېړي.

په پاکستان کې د افغان سفیر د لور تښتونې د ننه په هېواد او بهر کې سخت غبرگونونه راوپارول چې په دې لړ کې د چنگاښ په ۲۷مه په کابل او ننگرهار کې لاریونونه وشول او لاریون والو د پاکستان حکومت په دې موضوع کې ښکېل وباله.

د کابل لاریون کوونکو په یوه پرېکړه لیک کې ددې پېښې د عاملینو د محاکمې او د پاکستان په وړاندې د رسمي شکایت د ثبتولو غوښتنه وکړه. له بله پلوه، د افغانستان د ملي شورا ښځینه غړو په دې هکله د پاکستان د پارلمان د ښځینه غړو په نوم لیک کې له هغوی غوښتي دي چې دا موضوع د پاکستان په پارلمان او رسنیو کې مطرح کړي.

د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم هم پر خپل ټویټر د افغان سفیر د لور تښتول کېدل غندلي دي.

په خواله رسنیو کې د غبرگونونو په لړ کې د پښتون ژغورنې غورځنگ یو مخکښ او د پاکستان د پارلمان غړي محسن داوړ د فیسبوک پر پاڼه لیکلي و چې د افغان سفیر د لور د تښتولو موضوع شرموونکې ده او باید ددې پېښې عاملین ژرترژره ونیول شي.

د یادولو وړ ده چې له دې مخکې هم په پاکستان کې افغان ډیپلوماتان له دغه ډول گواښونو سره مخامخ شوي دي.

په ۲۰۰۸ زېږدیز کال کې په پاکستان کې د افغانستان پخوانی سفیر عبدالخالق فراهي د پېښور په حیات آباد سیمه کې تښتول شوی و چې موټر چلوونکی یې په ډزو کې وژل شوی و. نوموړی بیا په ۲۰۱۰ کال کې په یوه سرحدي سیمه کې د پوځي عملیاتو پرمهال راخوشې شو.

## په افغانستان کې د ترکيې پوځي حضور؛

# ترکان څه وايي؟



◆ ليکنه: لعل محمد لامع
◆ ژباړه: م. ظ. صميم

په دې وروستيو کې د بل هر وخت په پرتله، افغانستان د ترکي رسنيو او څېړنيز مرکز د بحث وړ موضوع شوې ده. ترکان له کلونو راهيسې افغانستان د کلتوري اړيکو له امله يو دوست هېواد ګڼي او د تاريخ په اوږدو کې له افغانستان سره ښې او دوستانه اړيکې لري. د ترکيې د پوځي حضور د دوام له مطرح کېدو وروسته، د افغانستان مسله ددغه هېواد په سياست کې له پخوا زياته د پام وړ ګرځېدلې ده. په افغانستان کې ځينې کسان فکر کوي چې ترکيه په هېواد کې د خپلو ګټو په لټه کې ده او دا ګټې تر ډېره له قومونو او ډله سره د اړيکو له لارې خوندي کوي؛ خو په عمل کې ترکيې ثابته کړې چې د افغانستان په وړاندې يې سياست د بې طرفۍ، انساني او په رغنيزو چارو کې د مرستو پر بنسټ ولاړ دی. په داسې وخت کې چې ځينې ګاونډي او د سيمې هېوادونه له طالبانو سره د اړيکو لرلو لپاره سره سيالي کوي، ترکيه د افغانستان د امنيت په ټينګښت کې د مثبت رول لوبولو په لټه کې ده. د تاريخ په اوږدو کې له افغانستان سره د ترکيې اړيکې، د دولتونو ترمنځ اړيکې وې. له همدې امله اوس د ترکيې دولت هڅه کوي د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت، امريکا او د ناټو له نورو غړو سره په همغږۍ، د کابل د هوايي ډګر د امنيت په ساتلو کې رول ولوبوي. په افغانستان کې د ترکيې حضور د ترکانو لپاره يو درونډ مسووليت دی. له همدې امله، دوی د پوځي حضور د مسلې په اړه بېلابېل او متضاد نظرونه لري. ځينې باور لري چې ترکيه په سوريه، ليبيا او عراق کې پوځي حضور لري او له ترهګرو ډلو سره په نښتو بوخته ده، له دې امله په افغانستان کې ددغه هېواد د فعاليت دوام معقول او منطقي نه دی. په مقابل کې د رجب طيب اردوغان په مشرۍ د عدالت او پراختيا د واکمن ګوند يو شمېر پلويان د افغانستان په ګډون په بېلابېلو هېوادونو کې د ترکيې د پوځي حضور پلويان دي. دا په داسې حال کې دي چې جمهوري غوښتونکی ګوند په بهرنيو هېوادونو کې د ترکيې د پوځي حضور مخالف دی. په ټول کې د ترکيې په عمومي افکارو او روڼ اندي ټولنه کې په افغانستان کې ددغه هېواد د پوځي حضور د دوام په هکله درې نظريات موجود دي:

۱ـ د اردغان او د عدالت او پراختيا ګوند پلويان په افغانستان کې د ترکيې له حضور سره موافق دي. دوی باور لري، له هغې وروسته چې ترکيې په افريقا، د منځنۍ ختيځ او بالکان او... په هېوادونو کې خپل پوځي حضور پراخ کړ، په نړيوال سياست کې يې پياوړی ځای خپل کړ. د دوی په باور په پوځي حضور سره په دغو هېوادونو کې د ترکيې پانګونه زياته شوه او دا پانګونه د ترکيې او دغو هېوادونو ترمنځ د ګټو پر عادلانه وېش ولاړه ده.


۲ـ محافظه کاره ډلې چې د واکمن ګوند ځينې پلويان، بېلابېل ګوندونه او بې پرې وګړي دي، په افغانستان کې د ترکيې حضور ته د شک په سترګه ګوري. دا ډلې که څه هم په افغانستان کې د ترکيې د شتون کلک مخالفت نه کوي؛ خو په دې اړه اندېښنه

لري. د دوي اندېښنې تر ډېره په دوو برخو کې دي، يو د افغانستان ټولنيز جوړښت او د هېواد سياست او د جګړې پېچلتيا او دوهم پر امريکا سخته بې باوري. دا ډلې فکر کوي چې د افغانستان جګړه او سياست پېچلي او له شکونو ډک دي، همداراز د جګړې لوري بدلون مومي او له بېلابېلو هېوادونو سره نږدې اړيکې لري. د دوی په اند، دا موضوع ترکيه له سخت حالت او ستونزو سره مخامخ کولای شي. دغو اندېښنو دوهمه برخه په وروستيو کلونو کې د امريکا او ترکيې ترمنځ د سختې بې باورۍ له امله ده. د ترکيې او امريکا اړيکو ته په پام سره دواړه هېوادونه له يوې خوا ستراتيژيک ملګري دي او له بله پلوه يې په اړيکو کې مختلف کړکېچونه تجربه کړي دي. د امريکا او ترکيې ترمنځ کړکېچ په ۱۹۶۰ کال کې د پخواني شوروي اتحاد په خاوره کې د امريکا د جاسوسي الوتکې په الوتنې سره پيل شو. له هغې وروسته، په ۱۹۶۲ کال کې د شوروي او امريکا ترمنځ د کيوبا د توغنديو ستونزه چې له امريکا سره يې د ترکيې پر اړيکو اغېز وکړ. په ۱۹۶۴ کال کې په شمالي قبرس کې د ترکيې د لاسوهنې په مطرح کېدو او د امريکا په مخالفت سره، واشنګټن پر انقرې د وسلو پلور ودراوه. په ۲۰۰۳ کال کې پر عراق د امريکا د بريد پرمهال، د ترکيې پارلمان له خپلو پولو بهر بريدونو کې د دغه هېواد د پوځيانو د ګډون او په دې هېواد کې د بهرنيو ځواکونو د حضور په پلوي رايه ورنه کړه. اوس هم د سوريې قضيه او ددغه هېواد له کُردي جنګياليو د امريکا وسله وال ملاتړ د واشنګټن او انقرې د اختلاف ټکی دی. له روسيې د جنګي الوتکو پېرل د امريکا او ترکيې ترمنځ د اختلاف بل مورد دی. دغو اختلافاتو ته په پام سره ترکان پوښتنه کوي چې څه ډول پر امريکا باور وکړي؟ ولې امريکا له شل کلن پوځي حضور او ميلياردونو ډالرو لګولو وروسته د کابل د هوايي ډګر په شان ستراتيژيک موقعيت ترکيې ته سپاري. دوی فکر کوي چې امريکا هڅه کوي ترکيه د افغانستان په جګړه کې ښکېله کړي او په دې توګه په نړيوال سياست کې د ترکانو رول منفي وښيي. د دوی په اند د کابل د نړيوال هوايي ډګر د امنيت ساتلو مسووليت منل د ترکيې لپاره جدي ستونزې رامنځته کولای شي.

۳ـ د حکومت مخالفې ډلې، له خپل هېواده بهر د ترکيې د پوځي حضور مخالفې دي. دوی په ليبيا او د سوريې په جګړه کې د ترکيې له حضور سره هم مخالفت کړی دی. د دوی په باور، ترکيه بايد په نړيوال سياست کې د يوه سيکولر او بې پرې دولت په توګه پاتې شي. دغه ګوندونه همداراز، له امريکا سره د ترکيې د اړيکو د پياوړتيا غوښتونکي دي. يو ترکي سياستوال چوشکون باشبوغ باوري دی چې د کابل د هوايي ډګر د امنيت ساتلو په اړه د امريکا او ترکيې ترمنځ د خبرو اوړدبدل له دې امله دي چې انقره ددغه مسووليت د منلو لپاره ډېر شرطونه لري؛ ځکه د کابل هوايي ډګر د افغانستان لپاره ستراتيژيک موقعيت دی او د نشه يي توکو او تورو پيسو د قاچاق مخنيوی او نور مسايل ستونزمن او پېچلي کاروونه دي. که ترکيه د امريکا او نورو هېوادونو د امنيتي الوتنو په ګډون د ټولو الوتنو د کنټرول واک ونه لري، درووند مسووليت به يې پرغاړه وي. ددغو موردونو د مخنيوي لپاره بايد په افغانستان کې د ترکيې حضور روښانه او د ټولو الوتنو د کنټرول د واک په لرلو سره وي.

## د طالبانو د مشر اختريز پيغام:

# د خبرو له لارې د افغانستان د مسلې حل ته ژمن يوو



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د طالبانو ډلې مشر ملاهبت الله، په خپل اختريز پيغام کې ټينګار کړی چې د خبرواترو له لارې د افغانستان د مسايلو حل ته ژمن دي.

د طالبانو د مشر په اختريز پيغام کې چې د ځنګابن په ۲۷مه نېټه خپور شوی، راغلي چې دا ډله په هېواد کې له پوځي پرمختګونو سره سره، د هېواد د ستونزو د سياسي حل ملاتړې ده.

په پيغام کې ويل شوي، طالبان له هر هغه فرصته چې په هېواد کې د اسلامي نظام او سولې او ثبات د ټينګښت لامل شي هرومرو ګټه پورته کوي.

د طالبانو مشرتابه حکومت تورن کړی چې اوس د سولې رامنځته شوي فرصتونه ضايع کوي. په دغه پيغام کې حکومت ته په خطاب کې راغلي: «زموږ پيغام دا دی چې راځئ پر بهرنيانو د تکيې پرځای خپلې ستونزې په خپله اواري کړو او هېواد له اوسني وضعيته وژغورو.»

په دغه پيغام کې ګاونډيو او د نړۍ هېوادونو ته ډاډ ورکړل شوی چې طالبانو ډله هېچا ته اجازه نه ورکوي د افغانستان له خاورې د نورو هېوادونو امنيت له ګواښ سره مخامخ کړي. خو نوموړي همداراز ټينګار کړی چې نور هېوادونه هم بايد د افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنه ونه کړي.

د طالبانو مشر بهرنيو ديپلوماتانو، سفارتونو، خيريه موسسو او پانګه والو ته ډاډ ورکوي چې د طالبانو له خوا هېڅ ستونزه نه ورته پېښېږي.

د طالبانو د مشر ملاهبت الله پيغام په داسې حال کې خپرېږي چې په اوسني وخت کې د هېواد په ډېری ولايتونو کې د جګړې اور بل دی. خو هغه د اختر په ورځو کې د اوربند ټينګښت ته هېڅ اشاره نه ده کړې. طالب جنګياليو په وروستيو مياشتو کې له سلو زياتې ولسوالۍ نيولې دي.

# د کندهار والي:
# د کندهار جګړه سياسي او قومي اړخ لري



◆ **احمد شاه شاداب**

د کندهار والي روح الله خانزاده وايي چې د کندهار جګړه سياسي او قومي اړخ لري.

نومونړي د چنګاښ په ۲۶مه نېټه په خبري ناسته کې وويل چې په کندهار کې ځيني امنيتي مسؤلين د قومي او سياسي اړيکو له مخې پوستې خوشې کوي.

اخوا، د کورنيو چارو وزارت امنيتي مرستيال عبدالرحمن رحمان چې د کندهار د امنيت د ارزولو په موخه دغه ولايت ته تللی ويلي: کندهار ولايت به په هېڅ صورت د طالبانو لاس ته ور نه شي، ځکه د کندهار په نوم سره ټول افغانستان يادېږي.

د کورنيو چارو وزارت لوی معين زياته کړه چې، په ورستيو ورځو کې يې طالبانو ته سخته مرګ ژوبله اړولې او دا لړۍ به دوام ولري.

عبدالرحمن رحمان څرګنده کړه، چې د کندهار ولايت سقوط د ټول افغانستان سقوط دی، نو دوی به په هېڅ صورت طالبانو ته د کندهار ولايت د نيولو اجازه ور نه کړي.

بل لوري ته د کندهار والي وويل، په کندهار کې ټوله جګړه سياسي ده او خلک د قوم پر اساس يو او بل ځای له سقوط سره مخ کوي. د خانزاده په وينا، په داسې حال کې، چې ځينو پوستو ته ان په څلورو ورځو هم وسله وال طالبان نه وي ورغلي خو هغه ځای افغان امنيتي ځواکونو پرېښې وي.

روح الله خانزاده زياته کړه، چې دی به هغه مشران ډېر ژر د کندهار اولس ته وروپېژني چې په تېرو شلو کلونو کې يې د کندهار د خلکو په نامه خپل جېبونه ډک کړي دي.

په کندهار کې په تېرو څو اونيو کې جګړو زور اخيستی، چې همهاله زياتې کورنۍ له خپلو سيمو بې ځايه شوې او کندهار ښار ته يې پناه وړې ده.

له بلې خوا، د کندهار يو شمېر وکيلان وايي هغه دولتي کارکوونکي چې په دې وروستيو کې له هېواده تښتېدلي بايد له دندو ګوښه او سزا ورکړل شي.

په ولسي جرګه کې د کندهار استازو سيد احمد سېلاب، ګل احمد کمين او مقتدا مېران د چنګاښ په ۲۶مه په دغه ولايت کې خبري ناستې ته وويل چې موږ تل د خپل اولس ترڅنګ ولاړ يو او په هر وخت کې به يې دفاع کوو. د ولسي جرګې غړي ګل احمد کمين ويلي چې په کندهار کې د جګړې يو لوری د خلکو له کورونو د سنګر کار اخلي، خو بل لوری بيا پر همدغو کورونو چې عام خلک په کې اوسېږي بمباري کوي او په پايله کې د دواړو لوريو لخوا عامو وګړو ته زيان رسېږي.

د کندهار بل استازي سيد احمد سېلاب وويل: هغه پوځي او ملکي مامورين چې په دې حساس وخت کې له کندهاره تښتېدلي دي، د دې ترڅنګ چې له دندو ليرې شي بايد سزا ورکړل شي.

د کندهاريانو بل استازي مقتدا مېران وويل، دا چې ولايتي اداري د موټر سيکلونو د ګرځېدو او همدارنګه د شپې لخوا د خلکو پر تګ راتګ بنديز لګولی، دغه ګام به د کندهار د امنيت په ښه والي کې اغېزناک ثابت شي.

په ولسي جرګه کې د کندهار استازي داسې مهال خلکو ته ډاډ ورکوي چې د کندهار ښار درې حوزې طالبانو نيولې او په ځينو نورو برخو کې هم جګړه روانه ده.

د دې ترڅنګ د دغه ولايت له ۱۷ ولسواليو يوازې دوه ولسوالۍ د امنيتي او دفاعي ځواکونو په ولکه کې دي.

# د هېواد د مالي نظام ستونزه؛

## اجمل احمدي د افغانستان بانک لپاره څه کړي؟



◆ **لیکنه: حسیب بهش**
◆ **ژباړه: م. ع. پ**

**لومړۍ برخه:** د افغانستان بانک د سرپرست په توګه د اجمل احمدي کار جنجالي کړنې یې د پوښتنې وړ شوې دي. اوس د ۸صبح ورځپاڼې څېړنې ښیي چې احمدي د حشمت غني احمدزي زوم او د ولسمشر محمد اشرف غني ته له نږدې وګړیو څخه دی. له یو شمېر کارکوونکو سره د نوموړي نامناسب چلند هم بې دلیله نه دی. په حکومت کې ځینې معتبرې سرچینې وایي چې د افغانستان بانګ سرپرست له ارواي ناروغۍ (Paranoid Personality Disorder) کړېږي او تر درملنې لاندې دی؛ دا ناروغي، ناروغ پر خپلو شاوخوا وګړو شکمن کوي.

هغه د افغانستان بانګ د سرپرستۍ چوکۍ له خپلولو وروسته، ددغه بانګ مرستیالان، آمرین، مخکښ او تجربه لرونکي کارکوونکي له دندو ګوښه او د بانک کارکوونکو ته یې له سلو زیاتې لاربښوونې او خبرداري ورکړي دي؛ هغه کارکوونکي چې د مالي برخې او بانکدارۍ معیاري کولو په موخه د دوی د ظرفیتونو د لوړولو لپاره په وروستیو دوو لسیزو کې پرې میلیونونه ډالره لګېدلي ؤ.

له نږدې یو کال راهیسې د افغانستان بانک د اجمل احمدي په مشرۍ عامل پلاوی نه لري او د بانک عالي شورا هم بشپړه نه ده. د عامل پلاوي تشه دومره احساسېږي چې هغه د خپل غیابت پرمهال د بانک د لومړي بست کارکوونکي چې په انګلیسي نه پوهېږي او د بانک د اساسي برخې د کارکوونکو له ډلې هم نه دی، د بانک د کنټرول په توګه وګوماره. د دې ترڅنګ د مالي سیاست، محاسبې او مالي، حقوقي چارو او مالي استخباراتو آمریتونو په ګډون د بانک ترټولو مهم آمریتونه د سرپرستانو له خوا اداره کېږي.

احمدي د خپلې کاري ډلې ډېری کارکوونکي چې د ولسمشر د مالي او بانکدارۍ چارو مشاوریت او د صنعت او سوداګرۍ وزارت څخه د تخصص او تحصیلي ځانګړي خلاف د افغانستان بانک ته تبدیل او ګمارلي دي؛ دا کار د اسنادو له مخې ناقانونه دی. همداراز د نوموړي د ډلې ځینې غړي چې د بانک کارکوونکي نه دي، د افغانستان بانک د کارکوونکو لپاره له لېږدوونکو موټرو د خپلو شخصي موخو لپاره ګټه پورته کوي او دغه چاره هم داسې مهال کېږي چې د همدې بانک پر کارکوونکو خونړۍ چاودنې شوې دي.

د ولسي جرګې غړو او د مالي چارو او بانکدارۍ برخې پوهانو په باور، په تېرو وختونو کې د اجمل احمدي لپاره د موازي مشاوریت جوړول او اوسمهال د نوموړي له ناقانونه کړنو د ولسمشر ملاتړ د دغه بانک خپلواکي تر پوښتنې لاندې راوستې او هغه یې د قانون د اصولو او سیاسي بنسټونو خلاف او د ارګ فرمان چلوونکی ګرځولی دی.

اوس وروسته له یوه کاله د افغانستان بانک کې د هغه مشرۍ د مالي برخې لپاره ستونزې راولاړې کړې دي. د بانک په عوایدو کې ۲۴ میلیارده ډالره کمښت د اجمل احمدي د مدیریت ترټولو څرګنده بېلګه ده. په داسې حال کې چې بانک په ۱۳۹۸ مالي کال کې د لیلام له اړخه شاوخوا ۲۱ میلیارده ډالره افغانۍ عاید ترلاسه کړی ؤ، د نوموړي د مشرۍ پرمهال یې ۱۰۱ سلنه سقوط کړی او ۱۲۴ میلیونه افغانۍ زیان یې لرلی دی. سربېره پردې د بانک جلا جلا عواید هم د نوموړي د مشرۍ پرمهال د هغه دلیل په اساس چې پوهان یې «محافظه‌کاري» ګڼي، څه باندې خلور میلیارده افغانۍ کمښت یې لرلی دی.

د نوموړي د کاري ډلې لخوا کم ساري لیلام، اندېښنې ډېرې کړې دي؛ ځکه د شاوخوا یوې میاشتې په موده «د ۱۴۰۰ کال د غبرګولي له ۱۵مې نه د چنګاښ تر ۲۰مې نېټې» د افغانستان بانک د افغانیو ارزښت د ثابت پاتې کېدو لپاره څه باندې ۷۰۰ میلیون ډالره لیلام کړي دي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان بانک د ادعا پر بنسټ، د مبادلې د نرخ وروستي بدلونونه اقتصادي او د پیسو سیاست له امله نه دي. پوهان په دې باور دي چې که همداسې سیاست دوام ومومي نو په نږدې راتلونکي کې به بانک د پیسو د زېرمو د ارزښت له کموالي سره مخ شي او د افغانیو ارزښت به لا کم شي.

همداراز په داسې شرایطو کې چې ولایتونه د سقوط په درشل کې دي او ملي پانګې د لوټلو له ګواښ سره مخ دي، احمدي د افغانستان بانک د خانګو د پیسو زېرمې د بانک په خانګو کې ۱۵ برابره ډېرې کړې دي؛ هغه ګام چې د ولسي جرګې غړو لپاره ګونګ او د مالي او بانکدارۍ برخې پوهانو لپاره د حیرانتیا وړ دی. دا په داسې حال کې ده چې د بانک د خانګو پیسې په عادي شرایطو کې باید په څو برابره کمې وي. البته د عملیاتي ګواښونو نړیوال معیار پر بنسټ باید آن یوه افغانۍ هم په بېړنیو حالاتو کې له خانګو څخه مرکز ته ولېږدول شي.

له بله پلوه هم د نوموړي د دندې پرمهال د افغانستان بانک ځینې ګامونه یوازې د رسنیو ترمنځ د خبرونو سرټکي او د خلکو د نیوکو د غلي کولو تر بریده محدود دي. د بېلګې په ډول د جنیوا کنفرانس د ژمنو په سند کې د پښتو ژبې د نه درج کولو له امله د دې بانک د یوې ښځینه کارکوونکې او د نوموړي د ډلې غړي لیرې کول دي چې په اصل کې هېڅ واقعیت نه لري. همداراز د ۷۰ مقررو د جوړولو ادعا چې په حقیقت کې د همدې بانک د «د مقرراتو کتاب» تر سرلیک لاندې مخکینۍ مقررې دي، په همدې اقداماتو کې راځي. ویل کېږي چې د افغانستان بانک مسؤلین د پرلپسې هڅو او قانوني غوښتنو او همدارار معلوماتو ته د لاسرسي قانون مطابق دې ته حاضر نه شول چې د ۸صبح پوښتنو ته ځواب ورکړي. دا په داسې حال کې ده چې د اطلاعاتو د لاسرسي کمېسیون د افغانستان بانک اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې ترټولو ترلې دولتي بنسټ ګڼي.




### اجمل احمدي څوک دی؟

اجمل احمدي د حنا صوفيه غني خاوند او د حشمت غني احمدزي زوم دی. لږ تر لږه پنځو کره سرچينو او په حکومت کې ځانګړو سرچينو دغه موضوع منلې ده. ۸صبح همداراز لازم شواهد په لاس کې لري چې د حنا صوفيه غني او حشمت غني سره د اجمل احمدي اړيکې ثابتوي. دا په داسې حال کې ده چې په وروستيو کې د افغانستان بانک له آدرسه ولسمشرۍ ماڼۍ يو مکتوب استول شوی چې په هغې کې احمدي د دوو اونيو رخصتۍ غوښتنه کړې چې د متحده عربي اماراتو په دوبۍ کې د خپل واده مراسم ترسره کړي.

په دې توګه اجمل احمدي د ولسمشر محمد اشرف غني د ورور زوم او د ولسمشر کورنۍ ته نږدې شخص دی. لکه څنګه چې د افغانستان بانک په سايټ کې راغلي، نوموړی د ماسټرۍ دوه سندونه لري چې لومړی سند يې د امريکا د هارواړډ له پوهنتونه د اداري او سوداګرۍ په څانګه کې او دويم يې د کينډي هارواړډ له پوهنتونه د اقتصاد او اداري په برخه کې ترلاسه کړی دی.

### د شکمن شخصيتي اختلال ناروغي

کره حکومتي سرچينې ۸صبح ته دا تائيدوي چې د افغانستان بانک سرپرست له يو شخصيتي اختلال «Paranoid Personality Disorder» څخه کړېږي او دمګړۍ تر درملنې لاندې دی. د ارواپوهانو په وينا دغه ناروغي د شخصيتي اختلال ۱۰ ناروغۍ يوه برخه ده او جدي نښې لري چې د اخته شخص په کړنو کې له ورايه ښکاري. دوی زياتوي هغه وګړي چې په دې ناروغۍ اخته دي، پر نورو باور نه لري او هڅه کوي چې ټول کارونه د زور له لارې په خپله ولکه کې ولري. همداراز دغه ناروغي انسان تحريکوي او ډېر ژر يې په غوسه کوي.

همداراز هغه وګړي چې پر دې ناروغۍ اخته وي، متعصب، منفي فکره وي او دا چې د خپلو شاوخوا خلکو لخوا د وېرې احساس کوي نو ډېر ژر د هغوی په رټلو لاس پورې کوي. دا په داسې حال کې ده چې د ارواپوهانو په وينا په دې ناروغۍ اخته کسان د اعتبار او ډېر درناوي غوښتونکي دي او د اشخاصو له لوري ترټولو کمه پاملرنه ورته بې احترامي ګڼل کېږي. ځينې ارواپوهان وايي چې د مخدره توکو ځينو ډولونو باندې روږدي کېدل پر دغې ناروغۍ د اخته کېدو يو لامل دی. دغه ارواپوهان د شکمن شخصيتي اختلال درملنه ډېره سخته ګڼي؛ ځکه چې ناروغ پر ډاکټر هم شک کوي.

### په موازي مشاوريت سره د حکومتي ماموريت پيل

اجمل احمدي د ۱۳۹۴ کال د وري په ۲۵مه نېټه حکومت ته د ننه شو؛ هغه وخت چې محمد اشرف غني نوموړی د ۱۵۰مې ګڼې حکم پر بنسټ نوموړی په مالي او بانکدارۍ چارو کې د سلاکار په توګه وګوماره. د افغانستان بانک د قانون د موادو پر بنسټ دغه بانک د حکومت د سلاکار او بانکدار حيثيت لري. د دې قانون د دويمې مادې له مخې د افغانستان بانک د «بانګولۍ، سلاکار او د دولت د مالي استازي» د دندو د مخته وړلو مسؤليت لري. په ورته وخت کې محمد اشرف غني د خپلو پروګرامونو مطابق او د قانون له مادو سره په ټکر کې د افغانستان بانک ته د رجوع پرځای د خپل ورور زوم په دې چارو کې د خپل سلاکار په توګه وګوماره. ارګ غوښتنه لرله چې احمدي د دې بانک په عالي شورا کې ګډون ولري؛ خو دا موضوع د افغانستان بانک د مشرتابه او ځينو نړيوالو بنسټونو له مخالفت سره مخ شوه؛ ځکه دغه چاره يې د افغانستان بانک د خپلواکۍ له اصله سرغړنه بلله. په دې وضعيت سره، سرچينې وايي چې احمدي د سلاکارۍ پرمهال او د بانک له سرپرستۍ وړاندې د نړيوالو ناستو په ګډون په بېلابېلو ناستو کې د دولت پلاوي په حضور سربېره ګډون کاوه او تل به يې د افغانستان بانک د مشرتابه پر کړنو نيوکې او څرګندونې کولې. د سرچينو په وينا، نوموړي په ځينو ناستو کې نړيوالو بنسټونو ته د افغانستان بانک وړانديزونه د خپل پروګرام په نامه ولسمشر ته وړاندې کړي دي.

احمدي د خپلې سلاکارۍ څوکۍ په ساتلو سره د ۱۳۹۷ کال د سلواغې په ۱۷مه د ولسمشرۍ ماڼۍ د دوو جلا جلا حکومونو پر بنسټ د صنعت او سوداګرۍ نوماند وزير په توګه وټاکل شو. د سوداګرۍ وزارت سرپرستۍ څوکۍ کې د نوموړي حضور د نوموړي لپاره د رسنيزو جنجالونو پيل ؤ. د دې په دوام داسې اسناد خپاره شول چې ښودل يې نوموړی د دې وزارت لوړپوړي کارکوونکي په ناقانونه توګه ګوښه کوي او پرځای يې سرپرستان ګوماري. ولسي جرګې آن د ۱۳۹۸ کال د مرغومي په ۲۳مه د صنعت او سوداګرۍ وزارت بوديجه وځنډوله او ويې ويل چې اجمل احمدي په رسميت نه پېژني. دغه بنسټ د دې په دوام له دولتي ادارو وغوښتل چې د اجمل احمدي لاسليک ته اعتبار ورنکړي.

### د افغانستان بانک ته د واکمنۍ لمنې غځول

د افغانستان بانک مخکينی رئيس خليل صديق د ۱۳۹۸ کال د غبرګولي په ۲۷مه له خپلې دندې استعفا وکړه او د دې بانک د سرپرستۍ مسؤليت د بانک د لومړي مرستيال وحيدالله نوشبر په غاړه شو.

د ۱۳۹۸مالي کال له بشپړېدو وړاندې محمد اشرف غني فرمان صادر کړ چې د افغانستان بانک ۱۵ ميلیارده افغانۍ ګټه دې د ماليې وزارت د عوايدو حساب ته ولېږدول شي. دغه ګام د بانک د مخکينيو مسؤلينو له جدي غبرګون سره مخ شو؛ ځکه چې د افغانستان بانک د قانون د ۲۹مې

مادې د پنځمې فقرې دوهم بند حکم کوي چې د عملیاتي خالصو عوایدو پاتې برخه دې د مالي کال له بشپړېدو وروسته د څلورو میاشتو په اوږدو کې دولت ته ولېږدول شي او پاتې خالصه گټه چې ارزښت یې نه وي څرگند (په هغه صورت کې که موجود وي) د ارزښت پیدا کونې د زېرمې حساب ته چې د افغانستان بانک «بیلانس شیټ» کې یې یادونه شوې ده، تخصیص شي.

له بلې خوا، حکومت نه شي کولی چې د افغانستان بانک د خپلو موخو د پوره کېدو لپاره تر فشار لاندې راولي او دغه موضوع د افغانستان بانک د قانون د دریېمې مادې په دریېم بند کې جوته شوې ده. همدراز د همدې مادې په څلورم بند کې ویل شوي چې د عالي شورا غړي، عامل پلاوی او د بانک نور کارکوونکي مکلف دي چې مرکزي بانک په توگه د افغانستان بانک وقار او شهرت په «بشپړې خپلواکۍ او بې پرې توگه او خلکو ته د خدمتونو په وړاندې کولو سره» وساتي او د بانک د ودې او پیاوړتیا لپاره هڅې وکړي او «له قانون سره په ټکر کې موادو» دې ډډه وکړي.

په دې توگه د بانک مسؤلینو له ولسمشره وغوښتل چې د رسمي حکم پر بنسټ دې داسې غوښتنلیکونه بانک ته ونه لېږي. غني بالاخره خپل دویم مرستیال سرور دانش او سترې محکمې رئیس سید یوسف حلیم ته فرمان ورکړ چې د دې پیسو د ترلاسه کولو لپاره دې قانوني لارې چارې وگوري. د ولسمشرۍ ماڼۍ او د افغانستان بانک ترمنځ اختلافات له همغه وخت پیل شول. بالاخره د ۱۳۹۹ کال د غبرگولي په ۱۴مه محمد اشرف غني د خپل ورور زوم اجمل احمدي د ۵۴۴مې گڼې حکم له مخې، د افغانستان بانک عمومي رئیس په توگه وگماره. دا په داسې حال کې ده چې د نوموړي د سلاکارۍ دنده هم تر یو مودې پاتې شوه.

**د افغانستان بانک کې د اجمل احمدي حضور قانوني دی؟**

د ولسمشر کورنۍ ته د نږدې شخص په توگه د اجمل احمدي حضور له دوو سیاسي او حقوقي اړخونو څخه څرگندونه کوي. د افغانستان بانک د قانون د دریېمې مادې په دریېمه فقره کې راغلي چې: «د افغانستان بانک د خپلو موخو د پوره کېدو لپاره د دغو احکامو مطابق بشپړه خپلواکي لري او هېڅوک نه شي کولی د افغانستان بانک تصمیم نیونکي غړي په هغو دندو کې چې لري یې تر خپل ناجایز اغېز لاندې راولي او د افغانستان بانک په فعالیتونو کې مداخله وکړي.»

د معلوماتو له مخې، د بانک مخکینیو مسؤلینو پرته له هغو مشخصو مواردو چې په قانون کې راغلي دي، له ولسمشر سره به یې لیده کاته او خبرې نه کولې. خو د بانک اوسنی مشر هر وخت له ولسمشر سره له نږدې گوري او ولسمشرۍ ماڼۍ ته تگ راتگ کوي. په ولسمشرۍ ماڼۍ کې معتبرې سرچینو ۸صبح ته وایي چې اجمل احمدي له ولسمشر غني سره نږدې اړیکې لري او هرکله چې وغواړي کولی شي د کتنو له اداري پړاوونو پرته ورسره وگوري.


له بله پلوه، کله چې اجمل احمدي د بانک سرپرست شو، د سلاکارۍ څوکۍ یې لغوه او ځیني کارکوونکي یې د افغانستان بانک کې وگمارل شول. د افغانستان بانک د قانون پر بنسټ په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د مالي او بانکدارۍ څوکۍ ته اړتیا نشته او که ورته اړتیا هم لیدل کېدای نو اوسمهال باید د مشاوریت له لیسته بهر شوې وای. د ارگ دغه گام دا اندېښنې ډېرې کړې چې گواکې جمهوري ریاست د افغانستان بانک کې د احمدي حضور او د هېواد په مالي او بانکي برخې کې لاسوهنې کوي.

همدارنگه د مالي او بانگي چارو د پوهانو په وینا، د افغانستان بانک صلاحیت دا ایجابوي چې خپلواک او داسې شخص چې له حکومت سره اړیکه ونه لري، د بانک څوکۍ باندې وگومارل شي. د افغانستان بانک د قانون د دوهمې مادې شپږمې فقرې له مخې، دغه بانک د نورو دندو ترڅنگ د «د جواز د صدور یا ثبت، پر بانکونو، صرافانو، د پیسو د خدمتونو وړاندې کوونکو، د ورکړې سیستم چلوونکو، د بیه لرونکو اسنادونو د خدمتونو وړاندې کوونکو او نورو اشخاصور باندې د څارنې او تنظیم» مسؤلیت لري.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان بانک د افرادو بانکي حسابونو د ارزونې صلاحیت هم لري. د افغانستان بانک د قانون د دریېمې مادې په دوهمه فقره کې راغلي چې «له ادارو لیدنه او د حسابونو، دفاترو، اسنادو او د بانکونو له نور مدرکونو، صرافانو، د پیسو د ورکړې سیستم چلوونکو، د پیسو خدمتونو وړاندې کوونکو، د بیه لرونکو اسنادو د وړاندې کوونکو، د بیه لرونکو اسنادو د لېږد سیستم چلوونکو او نور هغو اشخاصو ارزونه چې د دې قانون له مخې یې د فعالیت جواز ترلاسه کړی وي او د افغانستان بانک له لورې ثبت شوي وي، صلاحیت لري او کولای شي هغه اطلاعات چې د خپلو څارنیزو مکلفیتونو په اجرا کې یې لازم وبولي له نوموړو اشخاصو ترلاسه کړي.»

کارپوهان وایي، که د بانک مشرتابه د افغانستان بانک د قانون د احکامو سره په مخالفت کې سیاسي اړیکې ولري، دوی کولی شي له خپل واکه په گټې اخیستو د ټولو وگړو بانکي حسابونو څارنه او معلومات یې ترلاسه کړي. په دې توگه د بانک په مشرتابه کې د سیاسي او ولسمشر ته د نږدې وگړو حضور کولی شي چې د حکومتي چارواکو لپاره دا زمینه برابره کړه چې له ملي زېرمو ناوړه گټه پورته شي او له بل پلوه هم جمهوري ریاست د

**پاتې په ۱۲م مخ کې**



DA AFGHANISTAN BANK
CONSOLIDATED STATEMENT OF PROFIT OR LOSS
FOR THE YEAR ENDED 30 QAWS 1399 (20 DECEMBER 2020)

| | Note | 30 Qaws 1399 (20 Dec 2020) | 30 Qaws 1398 (21 Dec 2019) |
|---|---|---|---|
| | | (Afs in '000') | |
| Interest income | 26 | 8,296,334 | 9,535,355 |
| Interest expense | 27 | (662,438) | (175,155) |
| **Net interest income** | | 4,632,896 | 9,360,200 |
| Fee and commission income | | 196,075 | 235,884 |
| Fee and commission expense | | (167,243) | (141,207) |
| **Net fee and commission income** | | 28,832 | 94,677 |
| Net (loss) / gain from dealings in foreign currencies | 28 | (124,167) | 21,039,852 |
| Net gain / (loss) on financial assets measured at FVOCI | | 3,012,121 | 2,239,367 |
| Other income | 29 | 547,838 | 807,632 |
| | | 3,435,792 | 24,086,851 |
| **Operating income** | | 8,097,520 | 33,531,728 |
| **Operating expenses** | | | |
| Personnel expenses | 30 | (1,728,150) | (1,711,974) |
| Printing cost of bank notes | 12.3 | (262,294) | (280,924) |
| Other operating expenses | 31 | (476,771) | (515,426) |
| Depreciation and amortisation | 13.2 & 14 | (87,652) | (104,330) |
| **Net operating income** | | 5,533,653 | 30,919,074 |
| **Non-operating income and expenses:** | | | |
| Deferred grants recognised as income | 22 | 69,064 | 110,244 |
| Expenditure against grants | 32 | (69,064) | (119,244) |
| | | - | - |
| Net unrealised foreign exchange loss | 24.3 | (1,752,514) | (1,688,362) |
| **Profit for the year** | | 3,781,139 | 29,230,712 |

The annexed notes 1 to 39 form an integral part of these financial statements.

Abdul Rahman Barhaq
Acting Chief Financial Officer

Ajmal Ahmady
Acting Governor

DA AFGHANISTAN BANK
CONSOLIDATED STATEMENT OF CASH FLOWS
FOR THE YEAR ENDED 30 QAWS 1399 (20 DECEMBER 2020)

| | Note | 30 Qaws 1399 (20 Dec 2020) | 30 Qaws 1 (21 Dec 20 |
|---|---|---|---|
| | | (Afs in '000') | |
| **Cash flows from operating activities** | | | |
| Profit for the year | | 3,781,139 | 29,230,7 |
| **Adjustments:** | | | |
| Depreciation and amortisation | 13.2 | 87,652 | 104,3 |
| Interest income | 26 | (8,296,334) | (9,535,3 |
| Interest expense | 27 | 662,438 | 175,1 |
| Deferred grants recognised as income | 22 | (69,064) | (119,2 |
| Expenditure against grants | 32 | 69,064 | 119,2 |
| Recovery of expected credit loss | 29 | (249,424) | (407,7 |
| Inter-branch balances (written back) / written off | | (190,931) | 26,1 |
| | | (1,204,460) | 19,603,2 |
| **Working capital adjustments:** | | | |
| Decrease / (increase) in due from banks and financial institutions | 9 | 25,223,897 | 140,790,2 |
| Decrease / (increase) in assistance as lender of last resort | 11 | (3,361) | 6,795,0 |
| Decrease / (increase) in advances and other receivables | 12 | (387,104) | 316,5 |
| Decrease / (increase) in other assets | 15 | 5,563 | 7,7 |
| Increase / (decrease) in currency in circulation | 16 | 33,993,121 | 31,292,5 |
| Increase / (decrease) in due to banks and financial institutions | 18 | 2,855,174 | 6,572,7 |
| Increase / (decrease) in due to customers | 19 | 14,201,787 | (6,304,7 |
| Increase / (decrease) in IMF related liabilities | 20 | 488,626 | 584,8 |
| Increase / (decrease) in defined contribution obligation | 21 | 139,940 | 123,8 |
| Increase / (decrease) in provisions and other liabilities | 23 | 71,063 | 634,3 |
| | | 76,788,605 | 180,723,2 |
| | | 75,584,145 | 200,326,4 |
| Interest received | | 8,256,214 | 9,485,8 |
| Interest paid | | (662,438) | (175,1 |
| Grant received | 22 | - | 12,3 |
| **Net cash flows from operating activities** | | 80,177,921 | 209,849,2 |
| **Cash flows from investing activities** | | | |
| Investments made during the year | | (140,766,379) | (8,060,1 |
| Net long-term assets of the subsidiary | | - | (4,3 |
| Purchase of property and equipment | 13.2 | (57,973) | (71,4 |
| Purchase of intangible assets | 14 | (490) | (2,1 |
| **Net cash flows used in investing activities** | | (140,824,842) | (8,138,0 |
| **Cash flows from financing activities** | | | |
| Receipts from / (Repayments against) capital notes | | 21,074,211 | (8,923,4 |
| Payments of profit to MoF | | (12,759,153) | (23,989,1 |
| **Net cash flows from / (used in) financing activities** | | 8,315,058 | (32,912,5 |
| Net (decrease) / increase in cash and cash equivalents | | (61,331,862) | 167,598,5 |
| Cash and cash equivalents at beginning of the year | | 295,985,397 | 128,386,8 |
| **Cash and cash equivalents at end of the year** | 33 | 234,653,535 | 295,985,3 |

The annexed notes 1 to 39 form an integral part of these financial statements.

Abdul Rahman Barhaq
Acting Chief Financial Officer

Ajmal Ahmady
Acting Governor

DA AFGHANISTAN BANK
NOTES TO THE CONSOLIDATED FINANCIAL STATEMENTS
FOR THE YEAR ENDED 30 QAWS 1399 (20 DECEMBER 2020)

**8. FOREIGN CURRENCY CASH RESERVES**

| | Note | 30 Qaws 1399 (20 Dec 2020) | 30 Qaws 1398 (21 Dec 2019) |
|---|---|---|---|
| | | (Afs in '000') | |
| Cash at head office | | 18,570,911 | 18,570,911 |
| Cash at branches | | 15,596,430 | 1,012,425 |
| | 8.1 | 34,167,341 | 19,583,336 |
| **8.1 Foreign currency profile** | | | |
| USD | | 32,967,164 | 19,090,139 |
| Euro | | 1,076,948 | 365,347 |
| GBP | | 6,363 | 6,296 |
| PKR | | 144 | 151 |
| AED | | 2,092 | 2,136 |
| SAR | | 114,636 | 117,267 |
| | | 34,167,341 | 19,583,336 |

8.2 This represents cash held by the Bank in foreign currency at the Presidential palace, the Head office and its branches.

**9. DUE FROM BANKS AND FINANCIAL INSTITUTIONS**

| | Note | 30 Qaws 1399 (20 Dec 2020) | 30 Qaws 1398 (21 Dec 2019) |
|---|---|---|---|
| | | (Afs in '000') | |
| At amortised cost | | | |
| Term deposits with foreign banks | 9.1 | 158,905,679 | 301,434,893 |
| Current accounts with foreign banks | | 29,408,353 | 45,776,760 |
| Overnight deposits with foreign banks | 9.2 | 56,490,207 | 8,734,962 |
| | | 254,804,239 | 355,946,615 |
| Expected credit losses | 9.3 | (127,165) | (376,262) |
| | | 254,677,074 | 355,570,353 |

9.1 These carry interest rates ranging between -0.67% to 0.65% per annum (1398: -0.04% to 2.95% per annum) having maturity ranging from December 2020 to August 2021 (1398: December 2019 to October 2020).

9.2 These represent overnight deposits carrying interest rate at the rate of 0.01% per annum (1398: 0.03% per annum).

9.3 An analysis of changes in the ECL allowances in relation to foreign currency accounts of the Group measured at amortized cost is as follows:

| | (Afs in '000') |
|---|---|
| **Level 2** | |
| Opening balance as at 21 December 2018 (30 Qaws 1397) | - |
| Impact of IFRS 9 | 800,647 |
| Expected credit losses as at 22 December 2018 (1 Jadi 1397) | 800,647 |
| Impact during the year | (424,386) |
| Balance as at 21 December 2019 (30 Qaws 1398) | 376,261 |
| Expected credit losses as at 22 December 2019 (1 Jadi 1398) | 376,261 |
| Impact during the year | (249,096) |
| Balance as at 20 December 2020 (30 Qaws 1399) | 127,165 |

22

# ادبي ورشو

## لنډۍ

پر ګودر څه بلا لګېږي
چې کشر ورو يې بدرګه ورسره ځينه

پر ګودر ګنې ونې کېږده
چې شا ليلا منګې په سيورې ډکوينه

پر ګودر نښه راته کېږده
د مازديګر اوبو ته ځم وابه يې خلمه

په ګودر سور سالو ښکاره شو
ماوېل په تورو اوبو اورولګېدنه

ما په ګودر د نجونو ښخ کړئ
ګوندې ملاله پر ما کېږدي قدمونه

هر مازديګر دې لوی اختر دی
ګوده !ځکه دې صفت هر ځای کومه

مازديګرۍ دی ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې رېښتيا به شينه

خوله به د خدای په رضا درکړم
منګی مې ولې ښوروې لنده دې کړمه

منګيه بخت ته دې حيران يم
اول دې ښکل کړي بيا دې غېږ ته خېژوينه

منګي کې موري اوبه نشته
زه د اوبو لپاره کوز ګودر ته ځمه

منګي يې تول په ډنډ غوپه کړل
د شيطانۍ منګی په لپو ډکوينه

منګی په تخرګ ګودر ته ځمه
دا داسې ځای دی چې پرې کېږي ديدنونه

د باروتو له غباره وينې ځاځي
د دې ښار پر هره لاره وينې ځاځي

چې د پېغلو مات بنګړي ور په کې ښکاري
د ګودر له ړنګ چناره وينې ځاځي

د ښکلا په شپه يې، ناوې کړه شهيده
په سلګو يې له سينګاره وينې ځاځي

د رڼا ترې به کله پرې اوبه شي؟
په دې چم کې له سهاره وينې ځاځي

د شهيد جومات له ورانو ديوالونو
له ختين لوړه مناره وينې ځاځي

ترهېدل چې شيطانان يې له وارونو
بيا د ستورو له مداره وينې ځاځي

چې نغمو يې وېښول ويده قومونه
د رباب له سوې تاره وينې ځاځي

اخ!! پر ګلڅېره يې پروت شبنم د وينو
د ګلاب له ګل رخساره وينې ځاځي

چې مهين درد پرې مئين ولو ثاقبه!!
له سرو ، شونډو د پرهاره وينې ځاځي

ثاقب خپلواک

## راستون

جوړ به ستا باغچه کې ګله د رنګونو يو ترون شي
مات را مات به په دې ځانګو تور لاسونه د بېلتون شي

د ښکلاوو مست سهار به د ډېوو جامونه غوړپ کړي
په لمن به يې روښانه د خمارو نندارتون شي

د رحمت سيلۍ به يوسي نقابونه د سرکښو
هر منتر به يې باطل شي، هر زبان به يې زبون شي

د غزلو ښاپېرۍ به د ښايست لنګر ته راشي
په رخسار به يې اختر شي، په نڅا به پيوستون شي

ته به يو ځای ورسره وې احمدي منګول دې راکه
د خوښيو ستر اتڼ به په سياليو کې راستون شي

ګل آغا احمدي

# مریدنامه ۳۳

◆ **لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال**

د زیارت سیمې ته ورسېدل. ښځېنه و نرینه پر یوه زړه ودانۍ راټول شوي وو. په ودانۍ کې دننه پر یوه لرګین بکس باندې په سلګونو سرې او شنې ټوټې پوښل شوې وې، بکس نه ښکارېده، په زرې او رنګارنګ ټوکرو کې پټ و. زیارت کوونکي خوار او رنځور ول، د ټولو ګېډې د ملا په تیرونو نښتې وې، زېړ زبېښلي وو او ایله په لاره تلل.

مرید له یوه زیارت کوونکي وپوښتل :

دا خلک ولې خوار و نهر دي او دا زیارت څه نومیږي، په بکس کې څه دي؟

سړي ځواب ورکړ:

د دې سیمې خلک کاختې ( قحطي) وهلي وو، هېڅه یې د خوړلو لپاره نه لرل، ولږې او وبا هره ورځ ماشومان او بوډا ګان وژل او ځوانان یې له پښو غورځول...

یوه ورځ یو نوراني سړی راغی، په لاسونو کې یې څو ډبرلیکونه ( کتیبې) وو. سړي وږیو او نهرو خلکو ته وویل :

په دې ډبرلیکونو کې ستاسو د ژغورنې لارښود لیکل شوی. د ډبرلیکونو په لارښود عمل وکړئ او ځانونه له ولږې وناروغۍ وژغورئ...! نوراني سړي ډبرلیکونه د همدې زیارت په تش ځای کې پر یوه ډبره کېښودل او پخپله ورک شو....

په وږیو او نهرو خلکو کې اوازه شوه، چې هرڅوک پر ډبرلیکونو لاس وموښي، یا یې ښکل کړي نو په ولږه نه پوهیږي، ناروغي یې جوړیږي او داسې مړیږي، چې خوړو ته یې زړه نه کیږي...

بس ډبرلیکونه پر لوی کمر ایښي وو او خلک ډله ډله راتلل او ښکلول یې. ورو ورو یې پرې زیارت جوړ کړ او له هغې زمانې تر نن پورې زیارت کوونکي راځي، د تبرک لپاره زیارت ته خېرمه وابښه او د ونو پاڼې خوري پر ډبرلیکونو شونډې او سترګې موښي او بېرته ځي....

مرید خپل پیر ته سترګې ورواړولې ، ببرسري پیر چې د خپل مرید په سترګو کې پوښتنې ولوستې، نو کټ کټ په خندا شو، داسې یې وخندل، چې زیارت کوونکي یې حیران کړل، بیا یې وویل:

دې خلکو هیڅکله، ان یوځل هم ډبرلیکونه ونه لوستل، له ولږې د خلاصون په لارښود پوه نه شول، خو په پټو سترګو یې د لارښود لمانځنه پیل کړه...

نو پوه شه ؛ دا خلک ځکه وابښه او پاڼې خوري، چې د ولږې لارښود یې ونه لوست، ځان یې پرې پوه نه کړ، بلکې له هغه یې زیارت جوړ کړ.



# په انسانانو کې د خوب کولو توپیر


◆ **لیکنه: م. ظ. صمیم**

خوب په انسانانو کې توپیر لري چې اکثره وګړي په شپه او ورځ کې له لسو ساعتونو په کم خوب بسنه نه کوي، خو داسې خلک هم شته چې یوازې څلور ساعته بیده کېږي او په همدومره لږ خوب هم څښاند او د پام وړ انرژۍ څخه برخمن وي. په دې وروستیو کې د بریتانیا څېړونکو هم دا نظر تایید کړی چې د خوب وخت په انسانانو کې توپیر لري.

د دغه هېواد پخوانۍ لومړۍ وزیره مېرمن مارګربت تاچر هم له هغو وګړو وه چې په شپه او ورځ کې به یې له څلورو ساعتونو زیات خوب نه کاوه چې دې کار د نوموړې پر روغتیا کومه ناوړه اغېزه هم نه وه کړې. څېړونکو د همدې موخې د ثابتولو لپاره یو شمېر وګړي د ۴۷ ساعتونو لپاره په یوه آزموینښت ځای کې ویښ وساتل، پر نوموړو وګړو آزموینو او غبرګونونو وښودله، هغه کسان چې د خوب کولو د لیوالتیا حس پکې پیاوړی دی تر نورو زیات ګنګس او ناتوانه وو، دغو څېړنو ښودلې، هغه وګړي چې لږ خوب کوي د شپې له څلورو د سهار تر اتو بجو پورې تر ډېره خپله ځیرتیا او فکري تمرکز له لاسه ورکوي. له همدې امله، په دې وخت کې یعنې د شپې له څلورو د سهار تر اتو بجو باید د خطرناکو شیانو په کارولو په تېره بیا موټر چلولو کې ډېر پام وشي. څکه شمېرو ښودلې چې د نړۍ په اکثرو لویو ښارونو کې ډیرې ترافیکي پیښې په همدې وخت کې کېږي.

په خوب کې د نفس بندېدل چې په عامه اصطلاح خپسکه ورته وایي هم له هغو ستونزو څخه دي چې یو شمېر خلک وسره مخامخ دي که دا ستونزه ډېره پرمخ تللې نه وي له ساده لارو لیرې کېدای شي لکه د وزن په کمولو او په یوه اړخ په بیده کېدو سره.

څېړنو ښودلې چې په نړۍ کې دوه سلنه ښځې او څلور سلنه نارینه د خوب پرمهال د تنفس له بندېدو یا خپسکې سره مخامخ دي او هغه چې د شپې له خوا په دندو بوخت وي باید د ورځې دوه درې ساعته بیده شي چې دا کار به له دوی سره د شپې د دندې پرمهال د هغوی له ځیرتیا سره مرسته وکړي. همداراز د شپې د بې خوبۍ د مخنیوي لپاره له خوبه مخکې د آرامۍ احساس په ځان کې پیدا کول او د چایو او ګاز لرونکو ښښاکو له ښښلو ډډه کول ډېر اغېزمن دي. په خوب کې خرهار کول هم په ځینو وګړو کې ارڅي او په یو شمېر کې بیا د پوزې او وینو د غوړوالي له امله وي خو په دې صورت کې د وزن کمول او له خوب راوړونکو ګولیو ډډه کول اړین دي. باید ووایو چې د اسلام په سپېڅلي دین کې انسانانو ته سپارښتنه شوې چې په هر کار کې له افراط او تفریطه ډډه وکړي؛ دې اصل ته پام سره خوب کول هم که له حده زیات شي ناوړه زیانونه په ځان پسې لري او که لږ خوب وشي بیا هم د انسان د روحي کمزورۍ او فکري تمرکز د ګډوډېدو لامل کېږي چې علمي څېړنو هم دا نظریه تایید کړې ده.



## د ۹م مخ پاتې برخه

بانک د مشرتابه له لارې مالي حسابونو ته په لاسرسي سره پر سیاسیونو د فشار په توګه کار واخلي. د مالي او بانکي چارو کارپوهان په دې باور دي چې د ولسمشر کورنۍ ته د نږدې کس موجودیت په عملي او جدي ډول د مرکزي بانک خپلواکۍ تر پوښتنې لاندې راوستې ده.

د ولسي جرګې غړي په دې باور دي چې د افغانستان بانک اوسمهال هېڅ ډول خپلواکي نه لري.د ولسي جرګې دوهم منشي حجت‌الله خردمند ۸صبح ورځپاڼې ته ویلي، سره له دې چې ولسي جرګې اجمل احمدي د افغانستان بانک د ځوکۍ لپاره ونه مانه او رد يې کړ خو ولسمشر بیا هم په ناقانونه توګه په خپلې دندې پرېښې دی. خردمند دغه کار د دې بنسټ د خپلواکۍ د اصل تر پښو لاندې کولو لپاره د هڅو یوه برخه ګڼي او په دې باور دی چې اشرف غني د خپلې حکومتولۍ پرمهال هېڅ یو بنسټ نه دی پرېښی چې په خپلواک ډول عمل وکړي. هغه ولسي جرګه د بېلګې په توګه یاده کړه او ویې ویل چې ولسمشر زورواکي کوي او هڅه لري چې مقننه قوه هم تر خپل کنټرول لاندې راولي.

دا په داسې حال کې ده چې د وزارتونو او دولتي ادارو د سرپرستۍ قانون پر بنسټ چې د ولسمشر غني په وخت کې يې اجرايي بڼه خپله کړې ده، د افغانستان بانک پر ځوکۍ د اجمل احمدي پاتې کېدل قانوني بڼه نه لري او له حقوقي اړخ سټونزه لري. د دې قانون په پنځمه ماده کې «د سرپرست د نه تعیینولو حالات» تر سرلیک لاندې راغلي چې: «هرکله چې د وزارت او یا د یوې اداري نوماند د ولسي جرګې له خوا د باور رایه ترلاسه نه کړي او یا د وزیر دنده وځنډول شي او سلب اعتماد شي، په همغه وزارت یا اداره کې د سرپرست په توګه نه شي ګومارل کېدای.» د حقوقي چارو کارپوه وحید فرزه‌یي ۸صبح ته وویل که څه هم د ولسمشر دغه فرمان پخپله د اساسي قانون له مخې سم نه دی، خو د همدغه فرمان پر بنسټ هم هېڅوک نه شي کولای چې له ولسي جرګې څخه له رایې نه اخیستو وروسته د سرپرست په توګه کار وکړي. هغه زیاته کړه له قانوني اړخه اجمل احمدي د افغانستان بانک سرپرست نه دی او په دې توګه د بانک کارکوونکي کولی شي چې د قانون له مخې د نوموړي هر فرمان رد کړي.

### کارپوهان د بانګي برخې سیاسي کول د منلو وړ نه بولي

د ملي او بانکي چارو پوهان هم د افغانستان بانک د ریاست په ځوکۍ د اجمل احمدي حضور د پوښتنې وړ ګڼي. د مالي او بانکي چارو کارپوه سیر قریشي چې په غضنفر بانک کې د اجرايي ریاست او د افغانستان بانکونو اتحادیې کې د ریاست مخینه لري، ۸صبح ورځپاڼې ته یې وویل چې د اساسي قانون د ۱۲مې مادې پر بنسټ د افغانستان بانک باید خپلواک بنسټ او د دولت مرکزي بانک وي او خپلواکي یې وساتل شي. هغه زیاته کړه چې د یو غیر سیاسي، خپلواک، فني او د مالي برخې مهم بنسټ سیاسي کول د منلو وړ نه دي او دغه چاره د هېواد او د مالي برخې راتلونکي ته زیان رسوي.

د مالي او بانګي چارو دغه پوهان زیاتوي چې د افغانستان بانک د قانون د دریېمې مادې ځلورمې فقرې پر بنسټ د عالي شورا غړي، عامل پلاوی او نور کارکوونکي مکلف دي چې د بانک شهرت او وقار د مرکزي او بشپړه خپلواکۍ لرونکي بانک په توګه وساتي. د قریشي په باور د افغانستان بانک کې د اجمل احمدي حضور ځینې قوانین تر پښو لاندې شوي او په شخصي توګه پرې عمل شوی. هغه د مالي او بانګي چارو په مشاوریت، صنعت او سوداګرۍ وزارت او مرکزي بانک کې د ناقانونه ګمارنو، ګوښه کولو او د تبعیض او کورنیو اړیکو پر بنسټ ګمارنو نیوکه وکړه.


قریشي زیاته کړه چې له دغو موارود سره اړتیا ده چې د بانک سرپرست او عالي شورا یې د بانکونو د تصفیې او نړیوالو اړیکو آمریتونو په ګډون د غیر ضروري او موازي ماموریتونو د رامنځته کولو په اړه سپیناوی ورانديې کړي؛ ځکه د نوموړي په باور آن د ځینو بانکونو د ناکامه کېدو او د کابل بانک له قضیې وروسته هم د بانکونو د تصفیې آمریت جوړېدو ته اړتیا نه وه.

### پر ولسمشر په تکیې سره تصفیه او زورواکي

اجمل احمدي د افغانستان بانک کې په خپل حضور سره، په لومړي ګام کې د دې بانک لوړپوړي چارواکي یو په بل پسې له دندو ګوښه کړل. هغه وروسته له دې چې د بانک د یوه مرستیال د دفتر دروازه وتړله، نوموړي یې نېغ په نېغه خپل کور ته وغوښت او ورته یې ګوت‌څنډنه وکړه چې د بانک عالي شورا د پرېکړې له مخې ګوښه شوی دی. وروسته له هغې چې د بانک مرستیال په ټینګار سره ویلي ؤ چې دغه کړنه ناقانونه ده، اجمل احمدي هغه په غیر مستقیم ډول ګواښلی او هغه ته یې په دې تړاو خبره رسولې وه چې د ولسمشر غني ملاتړ په دې برخه کې له ځان سره لري. که څه هم د بانک دغه چارواکي غوښتنه کړې وه چې د عالي شورا د پرېکړې له مخې د ګوښه کېدو مکتوب ترلاسه کړي خو، له دې پرېکړې له لسو ورځو وروسته هم هېڅ راز سند نه دی ورکړل شوی.

له هغې وروسته د بانک د پخوانیو او تجربه لروونکو کارکوونکو، د تبدیلۍ، جبري استعفی او تقاعد چارو زور واخیست. دغه بدلونونه له غبرګونونو سره مخ شول. بالاخره د ولسمشر د ۱۳۹۹ کال د ۱۰۱۹ ګڼې د حکم له مخې د مالي او بانکدارۍ چارو آمریت لغوه شو. د ۱۳۹۹ کال د لیندۍ په ۱۲مه اجمل احمدي له ولسي جرګې د باور رایې په ترلاسه کولو بریالی نه شو، خو د سرپرست په توګه یې خپل کار ته دوام ورکړ. د نوموړي د ناقانونه حضور ترڅنګ د کارکوونکو ګوښه کېدل د دې لامل شو چې د پیسو سیاست، مالي، محاسبې او مالي استخباراتو په څېر مهم آمریتونه د سرپرستانو له خوا اداره شي.

د احمدي د کار دوام د ولسي جرګې له غبرګون سره مخ شو او د ۱۴۰۰ کال د وري په ۳۱مه د ولسي جرګې مالي، بودیجې، عمومي محاسبو او بانکدارۍ چارو کمېسیون په یوه لیک کې په پارلماني چارو کې د دولت وزارت ته ولیکل چې د افغانستان بانک عمومي سرپرست په توګه د اجمل احمدي لاسلیک د اعتبار وړ نه دی، خو ارګ لا تراوسه تصمیم نه دی نیولی چې د احمدي پرځای بل څوک د افغانستان بانک ریاست لپاره معرفي کړي. همداراز د اجمل احمدي له لوري په دغه بانک کې پر پراخو



تبدیلیو نیوکې وشوې خو د ولسمشر په نظر کې د بدلون څرک ونه لیدل شو.

**له میلیاردي ظرفیت جوړونې سره ناوړه چلند؛ تجربه لرونکي رخصت شول**

د افغانستان بانک کې د اجمل احمدي په حضور سره په دغه بنسټ کې پراخ بدلونونه راغلل. په دې لړ کې هغه د دغه بانک تجربه لرونکي وګړي د ځینو دلایلو له امله له دندو ګوښه او نوي وګړي یې په ناقانونه ډول وګومارل. د معلوماتو له مخې، له هغه وخته چې احمدي دې بانک راغلی، د بانګ لسګونه لوړپوړي کارکوونکي له دندو ګوښه، استعفی ته اړ شوي، تقاعد شوي، تبدیل شوي او یا هم د معاشونو په تمه دي. دا په داسې حال کې ده چې د سرچینو په وینا، دغه ټول وګړي په تېرو کلونو کې د آزادو سیالیو له لارې ګومارل شوي ؤ او د دوی پر ظرفیت لوړونې د افغانستان بانک، نړیوال صندوق او نورو څو بنسټونو لخوا میلیونونه ډالر لګول شوي دي.

اصلي کیسه نه ده ختمه، ګوښه شوي وګړي وایي چې د کارکوونکو له ګوښه کېدو وروسته او آن نورو څانګو ته د تبدیلۍ په صورت کې هم اجازه نه ده ورکړل شوې چې د افغانستان بانک ته د ننه شي. په دې دې توګه د بانک امنیتي برخې د افغانستان بانک د مشرتابه د لارښوونې له مخې د مخکینیو کارکوونکو د حضور مخه ډب کړې ده. دا په داسې حال کې ده، کله چې د بانک یوه مرستیال غوښتل خپل استعفا لیک بانک ته وسپاري، د بانک امنیتي کسانو لخوا یې مخه نیول شوې ده.

ترټولو مهم بحث دا دی چې دغه بانک له نورو دولتي بنسټونو سره په همغږۍ د دغه بانک د ګوښه شویو وګړیو له ګومارنې سره هلته هم مخه نیولې ده. د سرچینو په وینا، اجمل احمدي د یوې مقررۍ په تعدیلو سره عالي شورا ته وړاندیز کړی چې منفک شوي وګړي نه شي کولی د عالي شورا له تصدیق پرته چې تر لسو کلونو په دغه بانک کې وګومارل شي. همداراز دغې اداري له نورو بنسټونو سره په همغږۍ خپل ګوښه شوي وګړي دې ته نه دي پرېښې چې په نورو بنسټونو کې د څوکیو لپاره سیالۍ وکړي. دا په داسې حال کې ده چې دغه مقرره د قانون له موادو سره په ټکر کې ده.

ویل کېږي چې د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا دغه ګام هم د بانک په اداري چارو کې لاسوهنه بلل کېږي، ځکه د دې شورا اصلي کار، د پالیسۍ جوړول، د بودجې منظورول او د بانک تشکیل دی. سربېره پر دې د افغانستان بانک کره سرچینې ۸صبح ته تائیدوي چې اجمل احمدي د خپلو نږدې کسان د استخدام او ځای پرځای کولو لپاره غیر ضروري آمریتونه او معاونتونه رامنځته او د دې بانک د لوړپوړو او پخوانیو کارکوونکو بستونه یې د منظم پروګرام له مخې له منځه وړي دي.

دغه ګامونه داسې مهال اخیستل کېږي چې د بانک ځینو کارکوونکو د خپلو دندو پرمهال پورونه ترلاسه کړي او اوس چې اړ دي د ګوښه کېدو ترڅنګ خپل پورونه هم تصفیه کړي؛ د دې کار د ترسره کولو لپاره له ستونزو سره مخ کېږي. باید وویل شي چې د بانک ځینې برحاله کارکوونکي له اوسني وضعیته ناخوښ دي او د اجمل احمدي پر چلند سختې نیوکې کوي. د بېلګې په توګه محمد قسیم رحیمي د بانګ دوهم مرستیال او ۱۵کاله کاري تجربه او په مالي او بانګي چارو کې ماستري لري.

**بدلونونه قانوني او منطقي دلایل نه لري**

د ولسي جرګې غړي وایي چې دومره بدلونونه هېڅ منطقي او قانوني توجیه نه لري. حجت الله خردمند وویل چې د افغانستان بانک کې د اجمل احمدي حضور ناقانونه دی او هغه کړنې چې کوي، قانوني نه دي. د ولسي جرګې غړو له دې وړاندې هم غبرګون ښودلی ؤ او د بانک له مشرتابه یې غوښتې ؤ چې دغه ناقانونه بهیر ودروي. ویل کېږي چې د کارکوونکو د قانوني تبدیلۍ او د رتبې ټیټولو بهیر د ملکي خدمتونو کارکوونکو د ذاتي چارو په ۲۱ او ۲۳مو مقررو کې او د کار قانون په ۱۹مه ماده کې تشریح شوی دی.

د حقوقي چارو کارپوهان په دې باور دي چې داسې ګامونه ناقانونه دي؛ ځکه چې له یوه اړخه اجمل احمدي د دې کار صلاحیت نه لري او له بل پلوه د بانک د کارکوونکو د ګوښه کېدو اصول د ملکي خدمتونو کارکوونکو د ګوښه کېدو له اصولو سره په ټکر کې دي. د حقوقي چارو کارپوه وحید فرزهیي وایي چې د کارکوونکو د ګوښه کولو لپاره په لومړي ګام کې باید د هغه لامل روښانه وي. هغه وایي چې غیرحاضري او د جرم لرل د قانوني ګوښه کېدو یوه برخه ده. د نوموړي په باور له دې مواردو ورهاخوا باید د توصیې، خبرداري، د معاش کسر، د رتبې تنزیل او تبدیلي باید پلي او بیا کارکوونکی له دندې ګوښه شي. فرزهیي وویل چې د بانک د مرستیالانو په ګډون په ځینو مواردو کې آن د افغانستان بانک رئیس هم د دې کار صلاحیت نه لري او د افغانستان بانک په قانون کې دغه موارد روښانه شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې اجمل احمدي د قانون د موادو په پام کې نیولو پرته خپل یو مرستیال په دې دلیل چې عالي شورا د بانک د پرېکړو لوړې سرچینې په توګه پرېکړه کړې وه چې له دندې یې ګوښه کړي. د مالي او بانګي چارو کارپوهان له مسلکي پلوه د بانک د مسلکي او تجربه لرونکو کارکوونکو د ګوښه کېدو ګام تر پوښتنې لاندې راولي او هغه د اجمل احمدي د کمزوري مدیریت له امله ګڼي. هغه زیاته کړه چې د اشخاصو ګوښه کېدل د افغانستان بانک او د هېواد مالي برخې ته لوی ګوذار دی؛ ځکه چې پر وګړو لویه پانګونه شوې وه او د نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق او نورو بنسټونو له لوري یې روزنه لیدلې وه. ویل کېږي چې که څه هم د افغانستان بانک د خپلو هغو کارکوونکو د ګوښه کېدو په اړه چې د ظرفیت لوړونې لویه پانګه پرې لګول شوې معلومات ورنکړل، خو د بانک مخکینیو چارواکو د معلوماتو له مخې د طالبانو واکمنۍ له پرځېدو راهیسې تر دې دمه د دغو کارکوونکو د ظرفیتونو په لوړولو د نړیوالو معتبرو بنسټونو لخوا میلیونونه ډالر لګول شوي دي؛ ځکه چې د دې کارکوونکو د ظرفیت لوړونې پروګرامونو پر هر سفر په زرګونه ډالره لګېدلي دي.

نور بیا

# د ښاروالۍ او ترافيکو جنجال؛

## د کابل په ترافيکي بې نظمۍ کې ځوک ګرم دي



◆ ژباړه: م. ظ. صميم

د هېواد پلازمېنه چې څه د پاسه پينځه ميليونه وګړي په کې اوسېږي او لسګونه زره موټر پکې تګ راتګ کوي، له جدي بې نظمۍ سره مخامخ ده. ځينې کابل ښاريان وايي چې په ښار کې هېڅ قانوني تمځای نشته او که کوم تمځای هم جوړ شوی يوازې د ولايتونو موټر تري کار اخلي. د دوی په وينا په ښار کې د تمځايونو نشتوالی، د ګڼې ګوڼې لامل شوی او ښاروالي او د ترافيکو رياست پکې ګرم دي. يو شمېر موټرچلوونکي هم شکايت لري او وايي چې د مسوولينو له خوا د تمځايونو نه جوړېدل د ترافيک پوليسو د بډو اخيستو لپاره يوه هڅه ده. خو د کابل ښاروالۍ مسوولين وايي چې ددغه بنسټ په طرحه کې ۵۰۴ تمځايونه موجود دي او تراوسه ۲۶۴ جوړ شوي او پاتې نور د جوړېدو په حال کې دي. د دوی په وينا، تمځايونه شته، خو ستونزه د قانون په پلې کېدو کې ده؛ ځکه د مسوولينو په خبره، ترافيک قانون نه عملي کوي او خلک هم د قانون پلي کولو ته علاقه نه لري. د ترافيکو عمومي رياست ددغو ادعاوو په ځواب کې وايي چې ترافيک يوازې د واټونو د تنظيم مسووليت لري، خو په اوسني وخت کې له خپله کاره وروسته پاتې دي؛ ځکه مجبور دي د ښاروالۍ او ترانسپورت نوي سلنه کارونه هم دوی وکړي. ددغه بنسټ د مسوولينو په وينا، د نړۍ په هېڅ ځای کې ترافيک د کراچيو د ليرې کولو مسووليت نه لري، بلکې يوازې واټونه تنظيم او د اړتيا په صورت کې سرغړونکو ته سزا ورکوي.

**کابل ښاريان په پلازمېنې کې له ګڼې ګوڼې او تمځايونو له نشتوالي شکايت لري او وايي چې په کابل ښار کې ځانګړي تمځايونه نشته او دې چارې د موټرچلوونکو د ځورولو او له هغوی د بډو اخيستو لپاره زمينه برابره کړې ده. د کابل يوه اوسېدونکې بهشته ۸صبح ته وايي چې په ښار کې هېڅ ځانګړي تمځای نشته او موټرچلوونکي هرځای چې وغواړي موټر دروي او خلک پورته او ښکته کوي.** د هغې په وينا، يوازې د کابل په پښتونستان واټ سيمه کې د کابو اوو لوريو تمځايونه موجود دي چې د موټرو د درولو لپاره مناسب ځای د نشتوالي له امله موټرچلوونکي آن د سرک په منځ کې خلک پورته کوي. بهشته زياتوي، په ځلونو يې ليدلي چې ترافيک پوليس له دې امله موټرچلوونکي جريمه کړي چې موټر يې په تمځای کې نه دي درولي.

هغه زياتوي، ځينې وختونه موټر چلوونکي د سرک په منځ کې خلک سپروي؛ ځکه دغه چلوونکي وايي چې دوی ترافيکو ته هره اونۍ او يا د مياشتې پيسې ورکوي، خو ځينې چلوونکي بيا مجبور دي ترافيکو ته قانوني جريمه ورکړي.

يو شمېر نور ښاريان هم د نويو تمځايونو پر جوړولو نيوکه کوي او وايي چې د ښاري بسونو لپاره جوړ شوي دغه تمځايونه په نشه د روږدو په مرکزونو بدل شوي دي. د کابل يو اوسېدونکی طارق وايي چې په ښار کې ځانګړي تمځايونه نشته او له همدې امله، موټر چلوونکي هرځای چې وغواړي او آن د سرک په منځ کې موټر دروي چې دا چاره د ترافيکي نظم د ګډوډولو لامل شوې ده.

يو شمېر موټرچلوونکي هم د دغه وضعيت په هکله شکايت لري. د هوايي ډګر-سرای شمالي يو موټرچلوونکی مسلم وايي چې په کابل کې قانوني تمځايونه نشته، يوازې د بسونو لپاره څو تمځايونه جوړ شوي او هغه هم په داسې ځايونو کې چې هېڅ ښاري بس پکې تګ راتګ نه کوي. هغه زياتوي د ښار د نورو برخو په شان د شهيد څلورلارې، بره کې، هوايي ډګر، پروان دو او ګل سرخ څلورلارې پر سرکونو د بسونو لپاره تمځايونه جوړ شوي خو هېڅ بس

موټر نشته. مسلم زیاتوي چې یوازې د هغو موټرو لپاره تمځایونه شته چې ولایتونو ته ځي خو د ښاري موټرو لپاره تمځایونه نشته. د هغه په خبره، په ښار کې ټوله ګڼه ګوڼه او جنجال د تمځایونو د نشتوالي له امله دی چې همدا ددې لامل شوی موټر چلوونکي هرځای چې وغواړي موټر دروي، ډېری وختونه ترافیک پولیس د بډو اخیستو لپاره شخصي قانون جوړوي او په دې دلیل چې ګواکې په تمځای کې ولې موټر نه دروي چلوونکي جریمه کوي په داسې حال کې چې هېڅ تمځای نشته. دغه اوسېدونکی وایي چې په ځینو سیمو کې خلکو له پلیو لارو تمځایونه جوړ کړي او له موټرو پیسې اخلي.

**ښاروالي او ترافیک یو بل ګرم بولي**

د کابل ښاروالی مسوولین وایي چې په ښار کې معیاري تمځایونه نشته. **د ښاري ترانسپورت او ترافیکي چارو رییس احمد ذکی غفاري ۸صبح ته وویل، ۵۰۴ تمځایونه ددغه بنسټ په طرح کې شامل دي چې تراوسه ۲۶۴ جوړ شوي دي. هغه وویل چې پاتې تمځایونه به ډېر زر جوړ شي. د ښاغلي غفاري په وینا، تمځایونه شته خو ستونزه د قوانینو په پلی کولو کې ده؛ ځکه خلک تري بې خبره دي.** هغه د بېلګې په توګه د زیرزمینۍ سر یادوي او وایي چې په ټولو تمځایونو کې لیک دړې لګول شوي، خو ترافیک قانون نه عملي کوي او خلک هم د قانون پلي کولو ته لېوالتیا نه لري. د احمد ذکي په خبره، ټول وګړي د سړک په منځ کې موټرو ته په تمه وي، نو جوته ده چې ستونزه د تمځایونو د نشتوالي نه، بلکې د قوانینو په نه عملي کولو کې ده. خو د ترافیکو په عمومي ریاست کې مسوولین دا ادعاګانې ردوي. د ترافیکو عمومي رییس سیدنورالله مراد ۸صبح ته وویل چې تمځایونه په دې بنسټ پورې اړه نه لري او ترافیک یوازې د واټونو د تنظیم مسوولین لري. د هغه په وینا، په افغانستان کې ترافیک پولیس د ښاروالی او ترانسپورټ کابو نوي سلنه کارونه ترسره کوي. په ترافیکو ریاست کې مسوولین که څه هم په ځینو موردونو کې بډې اخیستل نه ردوي، خو وایي چې سرغړونکي له دندو ګوښه کوي او پر هغوی څارنه لري.

د ویلو ده چې کابل ښاریان له ډېرې مودې راهیسې د موټرو له ګڼې ګوڼې او تمځایونو له نشتوالي شکایت لري. په اوسني وخت کې په ښار کې لږ شمېر ښاري بسونه فعالیت لري او د شخصي موټرو زیاتوالی او کم سوري واټونه د ترافیکي بهیر د ناسم مدیریت لامل شوي دي. که څه هم کابل ښاروالی یو شمېر ښاري بسونه فعال کړي، خو اوس هم پلازمینه د ښاري بسونو له کمښت سره مخ ده. **د شمېرو له مخې، کابل سلګونه ښاري بسونو او له ۵۰۰ زیاتو تمځایونو ته اړتیا لري چې په ښار کې د ګڼې ګوڼې مخه ونیول شي. له دې مخکې کابل ښاروالی په ۱۳۹۶ کال کې اعلان وکړ چې د دربیو کلونو په اوږدو کې ۱۱۱ کیلومتره د متروبس کرښه جوړېږي. که څه ددغه متروبس د لارې لومړنۍ کارونه د بره کې ـ سرای شمالي ترمنځ پیل شول، خو د څلورو کلونو په تېرېدو ددې پروژې کار په ټپه ولاړ دی.**

# د سویل ختیځ زون پوځي شورا، د ملي دفاع سرپرست په مشرۍ ناسته وکړه



◆ **محتاج اصیل ـ پکتیا**

د ملي دفاع سرپرست وزیر بسم الله محمدي د چنګاښ په ۲۹مه د لوی اختر په لومړۍ ورځ د پکتیا مرکز ګردېز ته سفر درلود.

د پکتیا رسنیو دفتر وویل؛ محمدي پکتیا ته د خپل سفر پرمهال د دې ولایت له ملکي او پوځي مشرتابه سره د پوځي شورا ناسته وکړه چې په په دې ناسته کې د پکتیا والي ګل نبي احمدزي، د ۲۰۳ تندر قول اردو قوماندان دادان لونګ، امنیه قوماندان پاسوال عبدالقیوم باقي زوی، د ملي امنیت رئیس ډګروال فاروق جان انوري، د همغږۍ مرکز قوماندان او یو شمېر نورو امنیتي ادارو مسؤلینو ګډون درلود.

سرچینې زیاته کړه، په دغه ناسته کې د مسؤلینو له خوا ترسره شویو فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور شریک شو او د ولایت په کچه پر عمومي وضعیت، ستونزو او ځینو نورو مهمو موضوعاتو خبرې وشوې.

بسم لله محمدي په سویل ختیځ زون کې د امنیتي وضعیت د ډاډمن کېدو په موخه د قول اردو مسولینوته لارښوونې کړي، خو د جزیاتو په هکله یې رسنیو ته څه نه دي ویل شوي.

له دې وړاندې د پکتیا امنیتي مسؤلینو د دولت له د وسله والو مخالفینو ددغه ولایت د نهو ولسوالیو د ببرته نیولو لپاره د ځانګړو پلانونو خبر ورکړی ؤ، چې د دوی په خبره تطبیقي پړاوونه یې پیل شوي دي.



# د ننګرهار د ولايتي شورا رييس:
# اسلام آباد له طالبانو هراړخيز ملاتړ کوي

◆ محمد زمان سهيل

په افغانستان کې جګړې تر بل هر وخته زيات زور اخيستی او هره ورځ دواړو خواوو ته د لسګونه تنو د مرګ ژوبلې خبرونه خپرېږي.

د ننګرهار د ولايتي شورا رئيس احمد علي حضرت وايي چې پاکستان له طالبانو ملاتړ کوي او آن د جګړو په ليکو کې د طالبانو ترڅنګ پاکستانيان هم ليدل شوي دي.

د ننګرهار د ولايتي شورا رئيس څرګنده کړه: « ترڅو چې د پاکستان حکومت په پنجاب، لاهور او اسلام اباد کې وينه بهيدل ونه ګوري له افغانستانه لاس نه اخلي.»

دا په داسې حال کې ده، چې په دې وروستيو کې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان دولت او طالبانو د سولې مرکچې پلاويو ترمنځ ناستې پيل شوې دي او خلک يې هيله من کړي دي.

ځينې دا ناسته د لنډمهاله اوربند او بيا دايمي سولې لپاره ښه پېلامه بولي، خو يو شمېر نور بيا په دې نظر دي، چې دا ډول ناستې هېڅ درد نه دوا کوي او بايد خلک پرې تېر نه ايستل شي.

په ايران کې د افغانستان سفير عبدالغفور لېوال په خپله فيسبوک پاڼه ليکلي، چې په پرديو لوکسو تالارونو کې سولېدلي او بې ګټې خبرې د خلکو پر حالت، هيلو او غوښتنو تمسخر دی.

غفور لېوال وړاندې ليکلي: «دا دروغجن سياسي ادبيات بايد د سولې په رښتينو ادبياتو داسې بدل شي او ووايي چې موږ ژمنه کوو، چې له (الف) تاريخ څخه بې قيدو شرطه اوربند کوو.

موږ عملي اقدام کوو، چې سرله ننه هېڅ ملي بنسټ او عامه وداني نه ړنګوو، نه يې لوټوو او هېڅ افغان انسان نه وژنو.

موږ ژمنه کوو، چې د ملي حاکميت په چوکاټ کې ټول په يوه پياوړي حکومت کې سره شريک کېږو، چې خلکو ته کار، ډوډۍ او وطن ته ملي او نړيوال حيثيت وروبښلی شي او وطن د هر بهرني «هربهرنی، لرې، نږدې، ګاونډی، مسلمان، کافر او هريو...» له لاسوهنو څخه خوندي شي.»

په ايران کې افغان سفير ليکلي، چې تر دې هاخوا نصحيتونو، وعظونو، پندنامو او سياسي موعظو، چې ترشا يې په عمل کې خلک وژل کيږي، وطن ويجاړيږي او د ګاونډيو استخبارات راننه ايستل کيږي، خپل اعتبار له لاسه ورکړی دی.

د افغان سولې او جګړې په مسئله کې هر مهال توندې نيوکې پر پاکستان وي، په همدې اساس د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور احمد پښتين ويلي، پاکستان تل په افغانستان کې منفي لاسوهنه کړې ده.

پښتين ويلي، چې په افغانستان کې د پاکستان منفي لاسوهنې په تېر تاريخ کې ټوله سيمه له بربادۍ سره مخ کړې ده او په باور يې دا ځل به يې هم پايله همدا ډول بربادي وي.

منظور پښتين زياته کړې چې، که هر ډول وي د پاکستان د دا ډول لاسوهنې مخنيوی اړين دی، ځکه دا سيمه ننګولی شي.


د قطر له دوحې راپورنه وايي چې د طالبانو د سياسي دفتر مشر ملا عبدالغني برادر ويلي، د سولې له خبرو بايد ولسونه ناهيلي نه شي.

ملا برادر ويلي، چې اوس خبرې حساس پړاو ته رسېدلي او هڅه دا ده، چې يوې هوکړې ته سره ورسېږي.

په دوحه کې د افغان پلاوي او د افغانستان د ملي روغې جوړې د عالي شورا رييس عبدالله عبدالله ويلي، جګړه د حل لاره نه ده او د روانې جګړې ګټونکي هم يوازې او يوازې افغان اولس دی.

د سياسي چارو شنونکي د دواړو لوريو څرګندونې، هغه تکراري سياسي عبارتونه بولي، چې وايي اوس هېڅ رنګ نه دی ورپاتې او که لوري غواړي اولس ته ځان ثابت کړي بايد کړې ژمنې عملي کړي.

# د پکتیا څه د پاسه ۱۷۰ زره هکتاره ځنګلونه جدي پاملرنې ته اړتیا لري



**◆ محتاج اصیل ـ پکتیا**

د پکتیـا ولایت ۱۱ ولسـوالۍ غرنیـزه جغرافیـه لـري او غرونـه یـې په مېوه لرونکـو او غیـر مثمیـرو ځنګلونـو پوښـلي دي چـې ۱۷۰ زره او ۲۲۰ هکتـاره اټـکل شـوي دي. د تېـرو دربیـو لسـیزو جګـړو پـر مهـال دغـه ځنګلونـه پـه غیرمسـلکي ډول پـرې شـوي او اوس مهـال بیارغونـې تـه جدي اړتیـا لـري. خـو دا چې دولت یا سیمه ییـزه اداره ولې په وروسـتۍ لسیزه کې چې د بیارغونې لسیزه نومول شـوې، د دې ولایـت پـه ګڼو سیمو کې د ځنګلونـو د بیارغونـې او ساتنې پـه برخـه کې پاتـې راغلی، پـه اړه یـې د پکتیا ولایت په څمکنیـو، جانیخېلو او لجې منګلو ولسـوالیو کـې د منګلـو قـوم یـو قومـي مشـر لایـق خـان منـګل وایـي: «د دولت له خـوا پـه دې برخـه کې کـوم ځانګړی پروګرام نشـته، سیمې د حکومت د پوښـښ تـر لانـدې نه دي امنیت یې هم نـه خوندي کوي نو لـه دې امله پـه خپلـه قومونـو تـرون کـړی چـې نـور بـه دا ونې نـه پـرې کوي.»

د پکتیا په غرنیو سـیمو کې مېشـت خلـک وایي چې د ځنګلونـو رغولو او نـه پـرې کولـو تـه ژمـن دي او د دغـې ژمنتیـا د پـوره کولو لپاره یـې قومي تړونونـه کـړي او د ځنګلونـو د ساتلو لپـاره یـې ولسـي سـاتونکي (قومـي اربکـي) ګمارلـي چـې ټول لګښـت یـې د قومونـو لخوا ورکـول کېږي.

د پکتیـا ولایـت د ځاځـي آریـوب ولسـوالۍ یـو قومـي مشـر محمـد انـور صدیقـي وایـي: «مـوږ اربکـي ورته وایـوو دوی د قوم اعتبـاري خلک دي، د ځنګلونـو سـاتنه کـوي، هغـه خلـک چـې بې موجبـه د ونـې پـرې کوي مخـه یـې نیـول شـوې، کلـک تـړون شـوی، هرڅـوک چـې یـوه ونـه پـرې کـړي او آن یـو شـاخ یـې زیانمن کړي جریمه ټاکل شـوې چـې د پربکړې لـه مخـې تـرې ناغـه اخیسـتل کېږي.»

د پکتیـا ولایـت د دغـو سـیمو اوسـېدونکي کرنیـزې ځمکـې او یـا هـم مېـوه لرونکـي بڼونـه نـه لري چـې د ورځنیـو اړتیا پـه پوره کولـو ترې ګټه واخلـي، د دوی د عوایـدو یوازینۍ سـرچینه دغـه ځنګلونه دي چې لرګي یـې پـه بازارونـو کې د سـون لپـاره پلـورل کېږي.

خلـک او قومي مشـران له مسـوولو چارواکـو غواړي چې د بدیل معیشت لپاره داسـې پـروژې ورکـړي چې له یوې خـوا د ځنګلونو ونې په مسـلکي ډول پـرې او تـرې کار واخیسـتل شـي او لـه بلـه پلـوه پـه پلـي کېـدو سـره یـې د سـیمې اوسـېدونکو تـه د کار زمینه برابره شـي.

د پکتیـا ولایـت د وزې ځـدراڼ او جانیخېلـو ولسـوالیو اوسـېدونکي لعـل مرجـان او نـور ولـي وایـي: «لـه دولـت څخـه مـو غوښـتنه دا ده، داسـې پـروژې عملـي کـړي چـې د ځنګلونو په سـاتنې او د نیالګیو پـه روزلو کې ونـډه واخلـو قوریـې جـوړې کـړو، نـوي نیالګي چې ډېـر ګڼ شـوي کم او پـه هغـو ځایونـو کـې یـې کېنـوو چـې ونـې پـه کې نشـته.»

لـه بلـې خـوا، د پکتیـا ولایـت د کرنـې اوبـو لګولـو او مالـدارۍ رییـس محمـد الدیـن مهمند، منې چې ولسـي وګړو ورسـره د ځنګلونو په سـاتنه کـې پـوره ونـډه اخیسـتې او لا هـم د قومـي تړونونـو لـه مخـې د ځنګلونـو سـاتنه کېږي.

مهمنـد وایـي، هڅـې یـې پیـل کـړې چـې د دوی قومـي تړونونـو تـه پـه دولتـي چـوکاټ کـې رسـمي بڼـه ورکـړي او لـه مخـې یـې د دوه اړخیـزې هوکـړې پربنسـټ دوی تـه ورې او مناسـبې پـروژې وکـړل شـي.

د پکتیـا د کرنـې رییـس زیاتـوي: «لـه نېکـه مرغـه پـه پکتیـا ولایـت کـې دغـه قومـي تړونونـه مهـم رول لـري، د پکتیا په ډېـری ولسـوالیو کې دغه تړونونـه عملـي کېـږي او د ځنګلونـو د پـرې کولو مخنیوی یـې کړی دی، پـه لومـړي ګام کـې زمـوږ پـلان دا دی، تړونونو ته رسـمي بڼـه ورکـړو، چې وکـولای شـو د دوی لپـاره بدیلـې پروژې عملـي کړو.»

مهمنـد وایـي، تـر دې دمـه یـې په ۷ ولسـوالیو کې له قومي مشـرانو سره لـه وزراتـه د ورغلـي پـلاوي پـه ګـډون لیدلـي او د قومي تړونونو د رسـمي کېـدو پرسـر یـې ورسـره خبـرې کـړې دي. هغـه جوتـه کـړې چـې پـه نږدې راتلونکـې کـې بـه د پاتـې ولسـوالیو لـه قومـي مشـرانو سـره خبرې وشـي او د یـوه ځانګـړي میکانیـزم لـه لارې بـه داسـې پـروژې عملـي کـړي چـې نـه یـوازې ځنګلونـه وده وکـړي، بلکـې د سـیمې خلکـو تـه د کار زمینـه هـم برابـره شـي. چارواکـي وایـي پکتیـا اوس مهـال ۱۷۰۲۲۰ هکتـاره ځنګلونـه لـري او هـوډ لـري چـې د سـیمې د اوسـېدونکو پـه ملاتـړ دا شـمېره پـه راتلونکـو کلونـو کـې نـوره هـم لـوړه کړي.

لـه هغـې وروسـته خلـک د ځنګلونـو د سـاتنې لپـاره هوډمـن شـول چـې دوه کالـه مخکـې یـوازې د پکتیـا لـه غرونـو لـس زره او ۶۰۰ متریـک ټنـه جلغـوزې لـه هېـواده بهـر او پـه ځانګـړي ډول چیـن تـه صادر شـول.

# وچکالي او په وړاندې يې مبارزه



◆ محمد احسان محمدي

وچکالي په يوه سيمه کې د اوبو کمښت او يا هم نه شتون په داسې ډول سره چې د انسانانو باارزښته سرچينو کرنې او توليد له ستونزو او ننگونو سره مخ کړي د وچکالۍ په نامه يادېږي، يا هم په يوه سيمه کې د اوبو نه شتون د وچکالۍ په نامه يادېږي. د باران په اورېدو کې بدلونونه د موسمي بدلون (Climate Change) له لويو نښو څخه دي، چې اوس مهال ټوله نړۍ ورسره مخامخ ده. د دې ترڅنگ د موسمي بدلون لويې (نړيوالې تودوخې/Global Warming) په کرنه کې د اوبو د تبخير کچه زياته کړې او ستونزې يې نورې هم زياتې کړې دي. که د نړۍ تاريخ ته کتنه وکړو نو په ډېرو هغو سيمو کې چې اوبه کمې وې نورې هم کمې شوې، برعکس په هغو ځايونو کې چې زياتې وې نورې هم زياتېږي، چې د انساني ټولنې په گډون يې ټوله بشري ټولنه له مستقيمو او غير مستقيمو ستونزو او ننگونو سره مخ کړې ده، په ايکو سېستمونو کې ايکالوژيکي ستونزې منځته راغلې، يعنې د ژوندي او غير ژوندي چاپېريال ترمنځ اړيکې له نورمال حده وتلې، ټول ژووي له چاپېريال سره په نورماله توگه خپلې اړيکې نه شي ساتلای. وچکالي د ژوند پر ټولو برخو بدې اغېزې کوي، په ځانگړې ډول پر کرنه تر ډېره اغېز کوي چې د حيواني ټولنې لپاره د خوړو د برابرولو مسؤليت پر غاړه لري.

په عمومي ډول د باران په اورېدو، شدت، ځای او وخت کې زيات بدلونونه راغلي چې له امله يې په ځينو ځايونو کې چې اوبه کمې وې نورې هم کمې شوې په هغو سيمو کې چې اوبه زياتې وې نورې هم زياتې شوې، انساني ټولنه يې له ستونزې سره مخ کړې ده. افغانستان د نړۍ له هغو هېوادونو څخه دی چې په زياته اندازه چاپېريالي ستونزې «موقعيت، د باران کمه اندازه، دومداره وچکالي، د ځنگلونو کمښت او پرې کېدل، د څړځايونو له منځه تلل، د عامه پوهاوي د کچې ټيټوالی، د سرچينو کموالی، پر فسيلي(Fossil) او بايومس (Biomass) موادو باندې زياته تکيه، د چاپېريال ککړتيا، د ښاري او کليوالی ساحو پراختيا او د خاورې تخريب» لري، له بلې خوا، اقتصاد يې پر ځان بسيا نه دی چې ستونزې نورې هم زياتې کړې دي.

**افغانستان د نړۍ يو له هغه هېوادونو څخه دی چې د باران اندازه پکې (۷-۱۲۰۰ ميلي متره) او کرنه يې پر ژمنيو واورو او بارانونو تړلې، نو له همدې امله د وچکالۍ په وړاندې په يوه حساسه سيمه کې موقعيت لري، په هغه کال کې چې د ژمي په موسم کې د بارانونو اندازه کمه وي د هېواد زياتره سيمې له وچکالۍ سره مخامخ کېږي، ددې ترڅنگ يې زياتره وگړي پر کرنه بوخت دي او د ژوند چارې له همدې لارې سمبالوي. وچکالي په مستقيم ډول انسانان د ښناک او د ژوند په نورو چارو کې د اوبو له کمښت سره مخامخ کوي، له بله پلوه، په غير مستقيم ډول پر صنعت او کرنه اغېز کوي او انسانانو ته اقتصادي زيانونه رسوي، يعنې د کښت لپاره چې کافي اوبه موجودې نه وي، يا له منځه ځي او يا يې هم پر خوراکي ارزښت بدې اغېزې کوي، چې په پايله کې د انسانانو او ځارويو د خوراکي سرچينو د کمښت لامل کېږي.**

له دې سره سره چې وچکالۍ زياتې شوې او د اوبو سرچينې د هېواد په ټولو برخو کې د کمښت په حال کې دي کرنه هم ميکانيزه نده، چې له امله يې د اوبو او محصولاتو ضايعات زياتېږي او انساني ټولنې ته اقتصادي زيان رسوي. له دې سره سره چې وچکالۍ زياتې شوې د ژورو څاه گانو د اوبو د استعمال له امله د ځمکې لاندې اوبه هم د کمښت په حال کې دي چې په اوږده موده کې انسانان له يوه لوی ناورين سره مخامخ کولای شي، يعنې د ځمکې لاندې اوبو په کمښت سره د ځمکې کښناستل (Land subsidence) منځته راځي او د انسانانو ژوند له گواښ سره مخامخ کوي. کابل ښار د افغانستان له هغو ښارونو څخه دی چې ښايي په راتلونکي کې د ځمکې لاندې اوبو د زېرمو د خالی کېدو له امله د اوبو له نشتوالي سره مخامخ شي، ځکه پدې ښار کې د اوبو رسوني لړ شبکې شتون لري چې په نشت حساب دي، زياتره په کرنيزو فارمونو، شرکتونو، کارخونو او استوگنو سيمو کې د ژورو څاه گانو له اوبو زياته گټه اخيستل کېږي، بديل هم نشته او پر يوه نامعلوم لوري په حرکت يوو.

### د وچکالۍ په وړاندې مبارزه (Combat Against Drought)

لکه څنگه مو چې مخکې يادونه وکړه د باران په اورېدو کې د ځای او وخت له پلوه زيات بدلون راغلی، په ځينو ځايونوکې وچکالۍ زياتې شوې، نو د موسمي بدلون (Climate Change) په وړاندې مبارزه «له چاپېريال سره توافق، د شين کورېزه گازونو د خپرېدو مخنيوی» هم کولای شي په سېستماتيک ډول د وچکالۍ اغېزې کمې کړي. د وچکالۍ په وړاندې په مستقيم ډول مبارزه ناشونې ده، خو په غير مستقيمه توگه د توافقي او احتياطي کړنو په رڼا کې ورسره مبارزه کېدای شي، له شته سرچينو او فرصتونو سالمه گټه پورته کړو، چې وکولای شو د خپلې ټولنې اړوند اړتياوې پوره کړو. د توافقي کړنو په لړ کې په کرنه، صنعت او د ژوند په نورو چارو کې ځانگړې کړنې بايد په پام کې ونيول شي، لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله موخو ته داسې ستراتېژيک او عملياتي پلانونو جوړ او پلې شي چې له

يوې خوا مـو د ټولنـې اړتياوې پـوره کړې او بل لـوري ته لـه فرصتونو مو اعظمـي گټـه اخيسـتې وي، چـې ځينـې يـې په لانـدې ډول دي.

**۱- د اوبو مديريت (Water Management)**

د اوبـو مديريت د موسـمي بدلـون لـه املـه پـه نړيوالـه کچـه د ټولـو هېوادونـو او دولتونو لومړيتـوب دی، د انـرژۍ لـه توليـده نيولـې بيـا تـر کرنـې ټولـې برخـې پکـې شـاملې شـي.

- د کانالونـو کينـدل: د اوبـو لـه ټولـو حـوزو بايـد پـه ممکـن ډول د کرنـې لپـاره ويالـې وکينـدل شـي چـې د کرنـې برخـې تـه وده ورکـړل شـي.

**- د اوبـو زېرمـه کـول: دولـت بايـد پـه ټولـو هغـو ځايونـو او سيمو کـې چـې د کرنيـزو اوبـو د زېرمـه کولـو جوگـه وي لـوی او واړه د اوبو بندونـه ورغـوي، تـر څـو د کرنـې لپـاره د بـاران پـه نـه شـتون کـې د اوبـو کافـي سـرچينې برابـرې کـړي. لـه بلـې خـوا، د پاکـې انـرژۍ څېښـتن هـم کېدلـی شـو.**

- د اوبـو بيـا خلـې پراسـېس: پـه ټولـو هغـو ځايونـو کـې چـې د فاضلاب زياتـې اوبـه شـتون لـري بايـد پراسـېس شـي او بېرته پـه کرنـه او صنعت کـې ولگـول شـي، د بېلگـې په توگـه د کابل ښـار د فاضلاب اوبو بياځلې پراسـېس کـول د خصوصـي يا هم دولتـي ځانگې له خوا په داسـې ډول چـې اغېزمنتيـا يـې په نظر کې ونيول شـي.

- د اوبـو د ککړتيـا مخنيـوی: دولـت بايـد نقطـوي (Point او غيرنقطـوي(Non point) د اوبـو د ککړتيـا د سـرچينو د مخنيـوي پـه خاطـر لازم تدابيـر غـوره کـړي ونيسـي چې شـته اوبـه تر ممکنـه حده له ککړتيـا وژغـورل شـي. ددې ترڅنـگ بايـد دولت او نـور اړوند بنسـټونه د ټولنـې د عامـه پوهـاوي کچـه د اوبو د ارزښـت، اړتيا او کمښـت پـه اړوند لـوړه کـړي.

- د اوبـو رسـوني شـبکو تمديـد او د ژورو څـاه گانو د اوبو د گټې اخيسـتو مخنيـوی: بايـد ټـول څـاه گان د اړونـدو ادارو پـه اجـازه وکينـدل شـي، ددې تـر څنـگ دولت بايد په اړوندو ښـارونو کې په ځانگړې ډول کابل ښـار کـې د اوبـو رسـولو شـبکې جـوړې کـړي، چـې لـه ژورو څـاه گانـو د گټـې اخيسـتو انـدازه کمـه شـي، په دې سـره کولای شـو له يـوې خوا تر ځمکـې لانـدې اوبـو(Ground Water) سـرچينې پيـاوړې کـړو او له بله پلـوه پـه راتلونکـي کـې د ځمکـې لانـدې اوبو د کمښـت مخنيـوی وکړو.

**۲- پـه کرنـه کـې د وچکالـۍ پـه وړانـدې مبـارزه(Combat Against Drought in Agriculture)**

- د کرنـې ميکانيـزه کـول: لکـه چـې مخکـې يادونه وشـوه؛ کرنـه د هېواد لويـه برخـه ده او پـه ناخالصو ملـي توليداتو(GNP) کې ډېـره ونډه لري، دولـت بايـد د کرنـې د ميکانيـزه کولـو لپـاره لنـډ مهالـه، منـځ مهالـه او اوږد مهالـه پلانونـه جـوړ کـړي، چـې له يوې خـوا، حاصلات د کميت او کيفيـت لـه پلـوه ښـه شـي او بل لوري تـه د اوبـو د ضايع کېـدو مخنيوی وشـي. د کرنـې پـر ميکانيـزه کېـدو سـره د اوبخـور نـوي سېسـتمونه رامنځتـه کېـږي چـې د اوبـو لـه ضايـع کېـدو مخنيـوی کـوي. دوديـز د اوبخـور سېسـتمونه د اوبـو د ضايعاتـو ترڅنـگ د بېکاره بوټو پـر لېږد او د کرنيـزو محصولاتـو د غذايـي ارزښـت د کمښـت لامـل کېږي.

- د اصلاح شـويو تخمونـو(Improve Seed) دود او معرفي کول: داسـې اصلاح شـوی تخمونـه بايـد پـه کرنـه کـې د جيـن د انجينـری (Gin Engineering)پـه واسـطه رامنځتـه شـي چـې له يـوې خوا کمـو اوبو ته اړتيـا ولـري او لـه بلـه اړخـه يـې غذايي ارزښـت لـوړ وي.

**- سـهار وختـي کرونـدو تـه اوبـه ورکـول: ټولـې هغـه اوبه چې سـهار وختـي کرونـدې تـه ورکـول کېـږي د اوبـو د ضايعاتـو انـدازه يـې کمـه وي، يعنـې لـه يـوې خـوا، ځمکـه يخـه وي او بـل طـرف تـه د حـرارت درجـه ټيټـه وي چـې پـه پايلـه کـې يـې پر کمـه انـدازه اوبه تبخيرېږي.**

- د کرنيـزو ځمکـو قلبـه يـا يـووې کـول: لـه يـوې خـوا، قلبـه يـا يـووې د کرنيـزې ځمکـې خـاوره اصلاح کـوي او لـه بـل لـوري يـې د اوبـو سـاتلو ظرفيـت لوړېـږي.

- د اوبـو لـه ضايـع کېـدو څخـه مخنيـوی: د اوبو له سـرچينو تـر کروندې پـورې بايـد د اوبخـور پـه وخـت کـې سـمه څارنـه وشـي چـې د اوبـو لـه ضايـع کېـدو مخنيوی وشـي.

- د عادتـي اوبخـور مخنيـوی: ځينـې کروندگر خپل کښـت تـه پر عادتي شـکل اوبـه ورکـوي چـې پر دې سـره لـه يـوې خـوا، د کرنيـزو محصولاتو غذايـي ارزښـت کمېـږي او له بله پلـوه د اوبو د ضايع کېـدو لامل کېږي.

- د عضوي سـرو اسـتعمال: عضوي سـرې د خاورې جوړښـت ښـه کوي او د اوبـو سـاتلو ظرفيـت زياتـوي، برعکـس کېمياوي سـرې بيـا د اوبو اړتيـا زياتـوي، کـه چېـرې اوبـه کرونـدې تـه پـه وخـت ور نـه کـړل شـي ښـايي کرونـده لـه منځـه ولاړه شـي.

**۳- فـردي او ټولنيـز مسـؤليتونه (Individuals & Social Responsibilities)**

لکـه چـې مخکـې يادونه وشـوه لـه وچکالـۍ سـره پر مسـتقيم ډول مبارزه ناشـونې ده، خـو کېـدای شـي پـه غيـر مسـتقيم ډول د فـردي، ټولنيـزو او حکومتـي مسـؤليتونو لـه لارې داسـې کړنـې ترسـره شـي چـې د اوبـو ککړتيـا کمـه کـړو او همداراز د اوبـو د زيـات لگښـت او ضايـع مخنيـوی وکـړو. ځينـې فردي او ټولنيـز مسـؤليتونه پـه لانـدې ډول دي:

- د اوبـو د زيـات لگښـت مخنيـوی: اوبـه پـه هـره کورنـۍ کـې د بېلابېلـو موخـو لپـاره لگـول کېـږي، چـې لگښـت يـې توپيـر لـري. پـه يوه داسـې کورنـۍ کـې چـې تشـانابونه يـې په عصري ډول رغـول شـوي وي، يعنې پـه کمـود او شـاور سـمبال وي، د پخوانـي يـو فلشـه کمښـت پـه يـو ځل اسـتعمال سـره ۱۷ لېتـره اوبـه لگـول کېـږي، پداسـې حـال کـې چـې دو فلشـه کمودونـه پـه يـو ځـل اسـتعمال سـره د ۴-۶ لېتـره پـورې اوبـه لگښـت لـوي، يعنـې پـدې برخـه کـې د اوبو د لگښـت زيـات توپير ليدل کېږي. همدارنگـه د ژونـد پـه ټولـو اړخونـو کـې بايـد د اوبـو پـه لکښـت کـې کموالی راشـي.

**- د اوبـو د ککړتيـا مخنيـوی: ټولـې کورنـۍ بايـد د خپـل کـور کثافـات او پاتـې شـوني پداسـې ډول کنتـرول او مديريـت کـړي چـې چاپېريـال پـاک وسـاتل شـي او د اوبـو د ککړتيا سـبب هم ونه گرځـي.**

**- د بـاران اوبـو زېرمـه کـول: ټولـې هغـه کورنـۍ چـې کورونـه يـې پـه عصـري ډول رغـول شـوي بايـد د بـاران د اوبـو د زېرمـه کولـو لپـاره ځانگـړې ټانکـۍ ولـري چـې د بامونـو د بـاران اوبـه زېرمـه او پـه کاليـو وينځلـو، کمـود او داسـې نـورو اهدافـو تـرې کار واخلـي.**

- د عامـه پوهـاوي د کچـې لـوړول: هغـه وگـړي چـې د اوبـو پـه ارزښـت پوهېـږي بايـد پـه ټولنـه کـې د اوبـو د زيـات لگښـت پـه مخنيـوي کـې خپـل ايمانـي او وجدانـي مسـووليت ادا کـړي.

# ویټالیټي بلاسټ کریکټ لیگ کې د افغان لوبغاړي نوین الحق بریالی سفر



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د بریتانیې کرېکټ سوداګریز لیگ ویټالیټي بلاسټ کې د افغانستان کرېکټ ملي لوبډلې پیاوړي لوبغاړي نوین الحق بریالی او لاسته راوړنو ډک سفر پایته ورسېده. نوین الحق په دغه لیگ کې د لسیسټر شایر لوبډلې لپاره په زړه پورې سیالي ننداري ته وړاندې کړه. نوموړي په ۱۴ لوبو کې ۲۶ ویکټې ترلاسه کړې او څو ځله یې د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

# د اولمپیک راتلونکې نړیوالې سیالۍ او افغان لوبغاړي




د اولمپیک نړیوالې سیالۍ د جاپان په پلازمېنې توکیو کې د روان هجري لمریز کال د زمري په لومړۍ نېټه (د ۲۰۲۱ کال د جولای ۲۳مه) د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د بېلابېلو برخو ورزشونو په ګډون پیل شوې. په دغو سیالیو کې ګڼ شمېر افغان لوبغاړي هم په مختلفو برخو کې ګډون لري. کیمیا یوسفي او شاه محمود نورزی د اتلاتیک برخه کې، مهدي یاوري د نښه ویشتنې برخه کې، فهیم انوري د لامبو په برخه کې، فرزاد منصور د تکواندو په برخه کې او یو شمېر نور لوبغاړي په دغو سیالیو کې د ګډون ویاړ لري.


# د تاجیکستان په ګډون درېیو هېوادونو دICC دوهمه درجه غړیتوب ترلاسه کړ




سویس، تاجیکستان او منګولیا د کرېکټ نړیوالې شورا دوهمه درجه غړیتوب ترلاسه کړ. تاجیکستان له هغو هېوادونو دی چې د کرېکټ په برخه کې یې د افغانستان کرېکټ بورډ په همکارۍ او ملاتړ دغه ورزش ته په نوموړي هېواد کې وده ورکړه او بالاخره یې دې ته زمینه برابره کړه چې د کرېکټ نړیوالې شورا یا ICC د دوهمې درجې غړیتوب ورکړل شي.

## عکسونه خبرې لري











د اولمپیک نړیوالې سیالۍ د جاپان پلازمېنې توکیو د جولای په ۲۳مه پیل شوې. دغو سیالیو کې ګڼ شمېر افغان لوبغاړي هم ګډون لري. کیمیا یوسفي او شاه محمود نورزی د اتلاتیک برخه کې، مهدي یاوري د نښه ویشتنې برخه کې، فهیم انوري د لامبو برخه کې، فرزاد منصور د تکواندو برخه کې او یو شمېر نور لوبغاړي په دغو سیالیو کې د ګډون ویاړ لري.

عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.

Magazine
Hasht e Subh
Yesterday's Narrative Today's Mirror Tomorrow's Hope



## د دوحې ناستې ګډه اعلامیه؛ مذاکرات دې په لوړه کچه دوام وکړي

د دوحې د سولې مذاکراتو ناسته د چنګاښ په د افغان دولت او طالبانو لوړپوړو پلاويو ترمنځ د قطر پلازمينې دوحه کې ترسره شوه. دغو خبرو کې دواړو لوريو يوې عادلانه او تلپاتې سياسي حل لارې ته د رسېدو لپاره د مذاکراتو د چټکتيا پر اړتيا هوکړه کړې ده.

